

## د محمد صدیق

# د تبلیغ چیله



( تر انسانیت لوړ مذهب نشته )

# لړلیک

د کتاب پېژندنه ........ ث
سریزه ........ ج
د تبلیغ لومړی ورځ ........ ۱
د تبلیغ دویمه ورځ ........ ۳
د تبلیغ درییمه ورځ ........ ۵
د تبلیغ د درییمه شپه ........ ۷
د تبلیغ څلورمه ورځ ........ ۹
د تبلیغ پنځمه ورځ ........ ۱٤
د تبلیغ شپږمه ورځ ........ ۱٦
د تبلیغ د شپږمه غرمه ........ ۱۷
د تبلیغ اومه ورځ ........ ۱۹
د تبلیغ اتمه ورځ ........ ۲۱
د تبلیغ نهمه ورځ ........ ۲۳
د تبلیغ لسمه ورځ ........ ۲٦
د تلبیغ یوولسمه ورځ ........ ۲۸
د تلبیغ دوولسمه ورځ ........ ۳۰
د تبلیغ دیارلسمه ورځ ........ ۳۲
د تبلیغ څوارلسمه ورځ ........ ۳٤
د تبلیغ پنځلسمه ورځ ........ ۳٦
د تبلیغ شپاړسمه ورځ ........ ۳۸
د تبلیغ اوه لسمه ورځ ........ ٤۱
د تبلیغ اته لسمه ورځ ........ ٤٦
د تبلیغ نولسمه ورځ ........ ۵۰

د تبلیغ شلمه ورځ ........................................ ٥٢
د تبلیغ یویشتمه ورځ ........................................ ٥٥
د تبلیغ دوه ویشتمه ورځ ........................................ ٥٨
د تبلیغ درویشتمه ورځ ........................................ ٦٠
د تبلیغ څلورویشتمه ورځ ........................................ ٦٢
د تبلیغ پنځه ویشتمه ورځ ........................................ ٦٤
د تبلیغ شپږ ویشتمه ورځ ........................................ ٦٦
د تبلیغ اوه ویشتمه ورځ ........................................ ٦٨
د تبلیغ اته ویشتمه ورځ ........................................ ٧٠
د تبلیغ نهه ویشتمه ورځ ........................................ ٧٢
د تبلیغ دېرشمه ورځ ........................................ ٧٤
د تبلیغ یو دېرشمه ورځ ........................................ ٧٧
د تبلیغ دوه دېرشمه ورځ ........................................ ٨٠
د تبلیغ دري دېرشمه ورځ ........................................ ٨٤
د تبلیغ څلور دېرشمه ورځ ........................................ ٨٦
د تبلیغ پنځه دېرشمه ........................................ ٨٨
د تبلیغ شپږ دېرشمه ورځ ........................................ ٩٠
د تبلیغ اوه دېرشمه ورځ ........................................ ٩٣
د تبلیغ اته دېرشمه ........................................ ٩٥
د تبلیغ نهه دېرشمه ورځ ........................................ ٩٧
د تبلیغ څلوېښتمه ورځ (الوداع) ........................................ ٩٩

# د کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د محمد صديق د تبليغ چېله |
| ليکوال | محمد صديق |
| د فېسبوک پته | http://www.facebook.com/mohammad.sediq.af |
| د وېب پاڼې پته | http://www.mohammadsediq.com |

# سریزه

له ډېرې مودې را په دې خوا زما په چپ پوښتورګي کې کاڼي را پیدا شوي وو او د هغه د درملنې لپاره د هندوستان هېواد (سر ګنګارام روغتون) ته ولاړم، لومړني معاینات چې کله بشپړ شول نو ډاکټر د دوه میاشتو لپاره دارو او درمل راکړل وېل ته دا استعمالوه او که چېرې امکانات دې لرل نو دوه میاشتې وروسته یو ځل بیا راشه چې د کاڼي حالت وګورو.

سهار د ناشتې لپاره بهر ووتم او د چای دوکان ته ولاړم چې هلته یو تبلیغی هم ناست وو، زما خواته راغئ او له سلام وروسته یې خپل ځان را معرفي کړ.

له معرفت وروسته مې چې کله د خپل روغتیایي حالت په اړه مالومات ورکړل نو راته وایي دا دوه میاشتې چې دلته په ګېسټ هاوس یا هوټل کې تېروې نو ولې زموږ سره د الله او د هغه د رسول په لاره کې تبلیغ ته نه ځې؟

ما وېل ستاسې په تبلیغ کې خو یواځې همغه شپږ نمبرې وي او نور خو داسې نوي څه پکښې نشته چې درسره ولاړ شم نو زه به هلته څه وکړم؟

وېل نه خان صاب دا ستاسې د ملک په څېر تبلیغ نه دی بلکې دلته زموږ سره تکړه تکړه عالمان او شېخ الحدیثان په تبلیغ کې وخت تېروي او دوی موږ ته پرته له کلام الله او حدیث شریف نور هېڅ هم نه بیانوي.

بیا یې راته وېل چې ته زموږ سره د سې روزې لپاره ولاړ شه او که چېرې خوند یې در نکړ نو بیا بېرته راشه.

زه هم د **سې روزې** په نیت ورسره ولاړم خو کله مې چې د شېخ الحدیث مبارک احادیث واورېدل او د خپلو هېوادوالو نظرونه مې د لومړنیو دریو ورځو د خاطراتو په اړه په فېسبوک کې ولوستل نو زه یې دې ته اړ ایستلم چې د الله او د هغه د رسول په لاره کې چېله پوره کړم.

دا کتاب هم د هغه ټولو خاطراتو ټولګه ده چې د چېلې په دوران کې ورسره مخ شوم، په دې هیله چې دغه کتاب تاسې ته ګټور تمام شي او که چېرې د کتاب په اړه مو پوښتنې لرلې نو تاسې کولای شئ چې د فېسبوک او یا هم د وېبپاڼې له لارې راسره په اړیکه کې شئ.

**جزاک الله خیر**

# د تبلیغ لومړۍ ورځ

ټوله ورځ ستړیا، او د شپې مې د **شېخانو** له لاسه د خوب قرباني ورکړه ځکه یو خوا **وچه ځمکه** او بل خوا د **شېخانو تر سهاره خرهارۍ** او د دې ترڅنګ د لور له لوري راته پالې شوي **بوټان** مې هم د دین په لار کې قرباني کړل او کوم نېکبخته را څخه د تبلیغ په همغه لومړۍ شپه د جومات له منځ څخه پټ کړل.

وروسته بیا بازار ته لاړم چې یوه جوړه ارزانه بوټان واخلم، له ځانه سره مې وېل دوه ورځې خو لا پاتې دي چې نور به څه څه کېږي؟

د سهار وخت وو چې په بوټونو پسې لوڅې پښې بازار ته ولاړم، له ځانه سره مې وېل دا ځل به ارزان بیه څپلۍ واخلم ما وېل که چېرې بیا یې څوک رانه پټې هم کړي نو بلا ورپسې.

په بازار کې د یوه هندو د څپلیو دوکان ته ورننوتم نو دوکاندار حیران زما پښو ته وکتل وېل مشره ولې لوڅې پښې یې؟



هغه ته مې  د بوټانو د غلا کېدو کیسه وکړه نو هغه راته ویل:

> **وېل ته پوهېږې چې له ۵۰۰۰ مذاهبو څخه هغه د کوم مذهب پیروان دي چې بوټان غلا کوي؟**

ما وېل نه ولا نه پوهېږم ته يې راته وښيه.

**هغه وېل خپله پوه شه** او نور يې غږ ونکړ.

نه پوهېږم چې د دې **هندو د بچي** هدف به څوک وو ځکه چې په هندوستان کې خو په زرگونو مختلف مذاهب دي؟

څپلی مې تر را واخيستې او مخ په جومات ترې روان شوم.

# د تبلیغ دویمه ورځ

په دویمه شپه هم د لومړۍ شپې په څېر په وچه ځمکه پروت وم او خوب نه راتلو، ما وېل الله پاک به د دې ټولو سختیو اجر په هغه دونیا راکوي، د موبایل بټرۍ مې هم ختمه وه او چې کله مې د موبایل بټرۍ لږ چارج کړه نو زه د درېيمې ورځې د سترګو لیدلې د یوې صحنې په لیکلو بوخت شوم او کیسه داسې وه چې:

ماښام له لمانځه څخه وروسته امیر صیب خپلې **٦ نمبرې** تکرارولې او د **ایمان** او **یقین** خبرې روانې وې چې په دې وخت کې یو ځوان هلک را ولاړ شو او ویل یې امیر صیب زه یوه پوښتنه لرم او دا څه موده کیږي چې فکر پرې کوم خو تر اوسه کومې نتیجې ته پرې ونه رسېدم، امیر صیب وېل پوښتنه دې وکړه!



ځوان ورته ویل چې کله موږ کوم ناوړه کار وکړو نو وایو چې **شیطان** تېر ایستلو او د خپلو کړنو پړه پر شیطان ور اچوو خو ماته جالبه خبره دا ده چې **شیطان** بیا په قران عظیم الشان کې الله پاک ته وایي چې زه تا ګمراه کړم لکه په لاندې ایت شریف کې:

> ۞ **قَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ﴿٣٩﴾ سورة الحجر**
>
> **ژباړه:** ویې ویل: ای زما ربه! په سبب د دې چې **تا زه ګمراه کړم** خامخا هرومرو به زه په ځمکه کې د دوی لپاره ښکلې کول کوم او خامخا هرومرو به زه دوی ټول ګمراه کوم.

۞ مَن يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ ۚ وَيَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿١٨٦﴾ **سورة الأعراف**

**ژباړه:** هغه څوك چې **الله يې گمراه کړي**، نو د هغه لپاره هېڅ هدايت ورکوونکی نشته او هغه (الله) دوی په خپلې سرکشۍ کې پرېږدي، په دې حال کې چې سرگردان وي.

وېل ايا **الله** پاک او **شيطان** دواړه خلک گمراه کوي؟

له دې خبرې سره امير صيب **يو شرنگ** د ځوان له مخ څخه تېر کړ وېل د **گمراه** او **کافر** زويه اوس الله پاک هم په گمراهۍ تورنوې؟

ما ور منډه کړل او هلک مې ترې خلاص کړ او هلک همداسې له جوماته ووت او بيا بېرته را نغئ او زه هم د جومات په يوه کونج کې کښېناستم او خپل عبادت ته مې دوام ورکړ.

## د تبليغ درېيمه ورځ

نن هم د معمول په څېر د سهار له لمانځه څخه وروسته د **ايمان** او **يقين** تازه کولو خبرې وشوې، چې کله مو ايمانونه تازه شول نو يو څو کسان سره را غونډ شول او د **دوزخ د اورونو** کيسې يې شروع کړې.



داسې ويل کېدل چې دا **مبلغ** شخص پخوا **سندرغاړى** وو خو اوس يې سندرې د الله د رضا لپاره پرې اېښې وې او سخت په جوش او خروش کې يې د **جهنم د اورونو** کيسې کولې او ويل يې چې الله پاک ډېر زيات **انسانان** او **جنيات** يوازې د دوزخ د اورونو لپاره پيدا کړي او لاندې اياتونه يې راته بيان کړل:

۞ وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيراً مِّنَ الْجِنِّ وَالإِنسِ ﴿١٧٩﴾ **سورة الأعراف**

**ژباړه:** او يقيناً يقيناً مونږ د جهنم لپاره ډېر زيات پېريان او انسانان پيدا کړي دي.

۞ فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا وَلَن تَفْعَلُوا فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ۖ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ ﴿٢٤﴾ **سورة البقرة**

**ژباړه:** نو له هغه اور نه ځان بچ کړئ چې خشاك يې انسانان او کاڼي دي، د کافرانو لپاره تيار کړى شوى دى.

> ۞ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ ﴿٦﴾** **سورة التحريم**
> **ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! تاسو خپل ځانونه او خپل اهل له داسې اور نه بچ وساتئ چې د هغه خشاك خلق او کاڼي دي.

په دې وخت کې یوه ځوان پوښتنه وکړه چې الله پاک ولې **د انسانان او جنیاتو** د غوښو پر ځای **له وچو لرګیو او زغالو** څخه کار نه اخلي ځکه هم ښه سوځیږي او هم بوی نه کوي؟

**مبلغ ویل خاموش ګستاخ، ته اوس د الله پاک څخه ښه پوهیږې؟**

هغه ځوان بېچاره غلی کښېناست او یو دم خاموشي خوره شوه، په دې وخت کې یو بل نوراني شخص ویل چې ما خو په قران کې لوستي چې الله پاک انسانان او جنیات د عبادت لپاره پیدا کړي او لاندې ایت شریف یې ورته تلاوت کړ:

> ۞ **وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾** **سورة الذاريات**
>
> **ژباړه:** او ما **پیریان** او **انسانان** نه دي پیدا کړي مګر د دې لپاره چې دوی زما عبادت وکړي.

بس همدلته د دواړو اختلاف شو او زه او هغه ځوان نور له بحث څخه را ووتلو او دواړو د اشراق لمونځ وکړ او ورسته مو خپلو اذکارو ته ادامه ورکړه او د دوی خپل منځي بحث نیږدې وو چې په کرکېچ واوړي نو بیا مشر امیر صیب ټول سره خاموشه کړل.

## د تبليغ د درېيمه شپه

پرون له ماښام څخه وروسته د معمول په څېر د ايمان او يقين خبرې وشوې او له خبرو وروسته يوه عرب شېخ د جومات لپاره **کجورې (خرماوې)** راوړې وې.



شېخ الحديث چې کله يو څو دانې ترې وخوړلې نو ډېر خوند يې ورکړ او بيا يې د کجورو په وصف او د ګټورتيا په اړه دغه لاندې حديث شريف له مجلس سره شريک کړ:

**حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلاَمٍ، حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ بَشِيرٍ أَبُو بَكْرٍ، أَخْبَرَنَا هَاشِمُ بْنُ هَاشِمٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَامِرُ بْنُ سَعْدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنِ اصْطَبَحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةٍ، لَمْ يَضُرَّهُ ذَلِكَ اليَوْمَ سَمٌّ، وَلاَ سِحْرٌ» كِتَابُ الطِّبِّ: بَابُ شُرْبِ السُّمِّ وَالدَّوَاءِ بِهِ وَبِمَا يُخَافُ مِنْهُ وَالخَبِيثِ**

**ژباړه:** له **عامر بن سعد** څخه روايت دی چې له رسول الله (صلی الله عليه و سلم) څخه مې اورېدلي چې فرمايل يې: څوک چې د سهار پر مهال اوه **(۷) دانې عجوه** خرماوې يا کجورې وخوري نو په هغه ورځ به زهر او جادو نومړي ته زيان ونشي رسولی.

- لومړی ماخذ: صحيح بخاری – حديث ۵۷۷۹
- دويم ماخذ: صحيح البخاري ۷٦ کتاب ۹۱ حديث
- درېيم ماخذ: صحيح البخاري انګليسي ۷ ټوک ۷۱ کتاب ٦۷۱ حديث

ما چې حديث نوټ کولو نو په دې وخت کې يو شخص وېل امير صيب زما يوه ملگري هم د دې حديث شريف په اړه اورېدلي وو او د عجوه د کجورو له خوراک وروسته يې بيا **نيم گيلاس زهر** څښلي وو چې ايا دغه خبره واقعيت لري او کنه؟

وېل له زهر څښلو لږ شېبه وروسته د سړي حالت مخ په خرابېدو شو او که چېرې موږ په وخت روغتون ته نه وی رسولی نو د ظالم بچی به اوس مړی وی.

شيخ الحديث وېل ماته **د دې نادان شخص په عقيده کې څه فرق ښکاري** کنه دا امکان نه لري.

بل ورته وويل شيخ صيب زه به اوس له بازاره زهر درته راوړم او تاسې يې سبا سهار ورته تجربه کړئ چې دا گمراهان پوه شي چې دا خبره بلکل حقيقت لري.

په دې وخت کې امير صيب ولاړ شو وېل د ډوډۍ وخت دی نو بيا کيسه همغسې پاتې شوه.

نن سهار يې هم هېڅ ذکر ونکړ.

# د تبلیغ څلورمه ورځ

د مابنام له لمانځه وروسته مو چې کله ایمانونه د امیر صیب په عالمانه تقریر تازه کړل نو وروسته د یوه شېخ الحدیث سره په یوه کونج کې کښېناستو، یوه ملګري پوښتنه ترې وکړه چې عربان **نوردشیر** لوبه ډېره کوي ایا هغه **حلاله** ده او که **حرامه**؟

نو ښاغلي شېخ الحدیث د نوردشیر په اړه دغه حدیث شریف ورته بیان کړ:



**حَدَّثَنِي زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدَشِيرِ، فَكَأَنَّمَا صَبَغَ يَدَهُ فِي لَحْمِ خِنْزِيرٍ وَدَمِهِ»**

**ژباړه: بوریده** د خپل پلار په اختیار راپور ورکړی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: هغه څوک چې نوردشیر (د سترنج په څېر لوبه) کوي نو مثال یې داسې دی لکه د خوګ په غوښه او وینو یې چې لاسونه سره کړي وي.

- ماخذ: صحیح مسلم کتاب ۲۸ حدیث ۵۶۱۲
- دویم ماخذ: حسن الباني کتاب ۵۴ حدیث ۱۳
- درېیم ماخذ: سنن ابي داود حدیث ۴۹۳۹

بل شخص بیا د خوراک د ادابو په اړه پوښتنه وکړه او شېخ الحدیث ورته لاندې حدیث شریف وراندې کړ:



**وَعَن ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ – صلى الله عليه وسلم: «إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ طَعَامًا, فَلَا يَمْسَحْ يَدَهُ, حَتَّى يَلْعَقَهَا, أَوْ يُلْعِقَهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.**


**ژباړه: ابن عباس** له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی چې رسول الله فرمایي: چې کله تاسې ډوډۍ وخوړه نو تر هغه لاسونه مه پاکوئ چې تر څو مو څټلي نه وي او یا هم بل چا ستاسې لاسونه در څټلي نه وي.

- لومړی ماخذ: صحیح بخاري کتاب ٦٥ حدیث ٣٦٦
- دویم ماخذ: سنن ابن ماجه ٢٩ کتاب ٣٣٩٣ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح مسلم ٣٦ کتاب حدیث ١٦٨

په دې وخت کې د شېخ الحدیث مخې ته په اوبو کې **مچ** ولوېد نو **شېخ الحدیث** دا مچ را ونیو او څو نورې **غوپې** یې هم په اوبو کې ورکړې او بیا یې درې غوړپه د سنت په طریقه وڅښلې.

**یو چا ورته وویل چې شېخ صیب دا مچ دې ولې په اوبو کې غوټه کړ دا خو مردار شی دی؟**

نو شېخ الحدیث دغه حدیث ورته بیان کړ وېل د مچ یو وزر **شفا** لري چې تاسې نادانان نه پوهېږئ:




**حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ عُتْبَةَ بْنِ مُسْلِمٍ، مَوْلَى بَنِي تَيْمٍ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ حُنَيْنٍ، مَوْلَى بَنِي زُرَيْقٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْمِسْهُ كُلَّهُ، ثُمَّ لِيَطْرَحْهُ، فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ شِفَاءً، وَفِي الآخَرِ دَاءً»**

**ژباړه:** له **ابو هریرة** څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: کله چې مچ ستاسې په څښاک (اوبه یا شربت) کې ولویږي نو تاسې مچ پکښې غوټه کړئ ځکه چې د مچ په یوه وزر کې **مرض** دی او په بل وزر کې یې **شفا** ده.

- لومړی ماخذ: صحیح بخاري حدیث ۵۷۸۲
- دویم ماخذ: صحیح بخاري کتاب ۷۶ حدیث ۹۳
- دریم ماخذ: سنن ابي داود حدیث ۳۸۴۴

د ماسخوتن له لمانځه وروسته امیر صیب وېل ځئ نور خپلو ځایونو ته چې بیا به سهار نشو پاڅېدلی، نو یو شخص غږ وکړ چې دا **عمران پټېل** د سهار په لمانځه کې سخت ټنبل دی او تر ناوخته ویده وي.



شیخ الحدیث چې دا خبره واورېده نو دستي يې دغه حدیث ورته بیان کړ:

> **حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، قَالَ: حَدَّثَنَا مَنْصُورٌ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ذُكِرَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ، فَقِيلَ: مَا زَالَ نَائِمًا حَتَّى أَصْبَحَ، مَا قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ، فَقَالَ: «بَالَ الشَّيْطَانُ فِي أُذُنِهِ»**
>
> **ژباړه:** له **عبدالله** رض څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: یو سړي د پیغمبر (ص) پر وړاندې یادونه وکړه چې هغه تر سهاره ویده وي او لمانځه ته نه پاڅېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل «د هغه په غوږنو کې شیطان متیازې کړي».

- لومړی ماخذ: صحیح بخاري حدیث ۱۱۴۴
- دویم ماخذ: صحیح بخاري کتاب ۱۹ حدیث ۲۵
- درېیم ماخذ: صحیح بخاري انګلیسي ۲ ټوک ۲۱ کتاب ۲۴۵ حدیث

# د تبليغ پنځمه ورځ

د تبليغ نيت او اراده مې يواځې د دريو ورځو کړې وه خو لکه چې د الله رضا به په همدې کې وه چې لږ نور وخت هم د دين په لاره کې تېر کړم، بل دا چې پر فېسبوک د ملګرو نظر پوښتنې هم دا وښودله چې د يو څه مودې لپاره نور هم د الله په لاره کې وخت تېر کړم.



پرون غرمه زموږ د حلقې يوه ملګري **دال او سبزي** ډېر زيات خوړلي وو او مسکين **اسهال** شو، پرون شپه د نوموړي اسهال بيخي شديد شو نو بيا يې روغتون ته ولېږدولو، وو نن سهار **شيخ الحديث** صيب د سهار له لمانځه څخه وروسته د **شهادت د اقسامو** په اړه بيان ورکولو.

ويل يې په يوه حديث کې **پنځه ٥** او په بل کې بيا **٧ ډوله شهادت** ذکر شوی او بيا يې د اسهال د شهادت ذکر هم وکړ، ويل که څوک د **اسهال** له وجې مړ شي نو هغه پاک **شهيد** دی او بيا يې دا لاندې احاديث شريف راته بيان کړل:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «الشُّهَدَاءُ خَمْسَةٌ: الْمَطْعُونُ، وَالْمَبْطُونُ، وَالْغَرِقُ، وَصَاحِبُ الْهَدْمِ، وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ»**

**ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة** څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: شهادت **پنځه ۵ ډوله** دی: څوک چې **طاعون** (وبا ناروغۍ) له وجې مړ شي، څوک چې د **اسهال** (کولرا) له وجې مړ شي، څوک چې د **غرقېدو** له وجې مړ شي، څوک چې د **خاورو** لاندې شي او مړ شي او څوک چې د **الله په لاره** کې په جګړه کې شهید شي.

- ماخذ: رواه البخاري في الأذان (٦٥٤)، ومسلم في الإمارة (٣٥٣٨)، والترمذي في لاجنائز (٩٨٣)، وأحمد (٧٩٥٤)، ومالك في النداء للصلاة (٢٦٩)

**وعن جَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال: «الشُّهَدَاءُ سَبْعَةٌ سِوَى الْقَتْلِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ : الْمَطْعُونُ شَهِيدٌ، وَالْغَرِقُ شَهِيدٌ، وَصَاحِبُ ذَاتِ الْجَنْبِ شَهِيدٌ، وَالْمَبْطُونُ شَهِيدٌ، وَالْحَرِقُ شَهِيدٌ، وَالَّذِي يَمُوتُ تَحْتَ الْهَدْمِ شَهِيدٌ، وَالْمَرْأَةُ تَمُوتُ بِجُمْعٍ شَهِيدٌ»**

**ژباړه:** له **حضرت جابر بن عتيک** څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: شهادت په **اوه ۷** ډوله دی: څوک چې **طاعون** (وبا ناروغۍ) له وجې مړ شي، څوک چې د **غرقېدو** له وجې مړ شي، څوک چې د **خپل مال او ناموس په دفاع** کې مړ شي، څوک چې د **اسهال** (کولرا) له وجې مړ شي، څوک چې **اور کې د سوځېدو** له وجې مړ شي، څوک چې د **خاورو لاندې** (تعمیر لاندې شي) شي او مړ شي او کومه ښځه چې **د ولادت** پر مهال مړه شي.

- ماخذ: رواه أبو داود في الجنائز (٢٧٠٤)، وصححه الألباني في صحيح أبي داود، ومالك في الجنائز باب النهي عن البكاء على الميت (٤٩٣)

دلته یو بل افغان هم ناست وو خو زه یې نه پېژندم، **هغه وېل چې داسې ده نو دا زموږ په وطن کې طالبان او داعشیان ولې د ځانمرګي بریدونو پر ځای د اسهال دوا نه خوري، هم به یې نورو ته زیان نه رسیږي او هم به یې شهادت او حورې په نصیب شي؟**

امیر صیب هم د **موافقت** سر وخوځولو خو په خوله یې څه ونه ویل او بیا وخت د اشراق د لمانځه شو نو ټولو دوه رکعته د اشراق لمونځ ادا کړ.

# د تبلیغ شپږمه ورځ

**عرفان** زموږ د گروپ ملگری دی وختي راغئ او ټول یې د سهار د لمانځه لپاره راويښ کړو، زه او شېخ الحدیث صيب اوداسه ته لاړو چې په دې وخت کې د سهار اذان وشو نو شېخ الحدیث صيب وېل ته پوهېږې چې **شیطان** کله د اذان غږ واوري نو **گوزونه (تیزونه)** اچوي او په تېښته شي؟

ما وېل نه ولا دا خبره چا کړې؟



نو بیا شېخ الحدیث صيب دغه لاندینی د صحیح بخاري حدیث شریف راته بیان کړ او زموږ ایمانونه یې را تازه کړل:

> **أَخْبَرَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ أَدْبَرَ الشَّيْطَانُ وَلَهُ ضُرَاطٌ حَتَّى لَا يَسْمَعَ التَّأْذِينَ»**
>
> **ژباړه:** له حضرت ابو هریرة څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې اذان کیږي نو شیطان د تېښتې پر مهال گوزونه اچوي تر څو د اذان غږ وانه وري.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث ٦٠٨
- دویم ماخذ: صحیح البخاري کتاب ١٠ حدیث ٦
- دریم ماخذ: سنن ابي داود حدیث ٥١٦

## د تبلیغ د شپږمه غرمه

د غرمې له لمانځه وروسته ملګرو د هندوستان د **شادوګانو (بيزوګانې)** خبرې کولې ويل يې د دې ځای شادوګانې ډېرې مضرې دي کله کله له خلکو څخه موبايلو هم غلا کوي او کله بيا خولې هم لګوي.

شېخ الحديث صيب هم زموږ خوا کې د دې ملګرو کيسو ته غوږ نيولی وو او غږ يې وکړ چې تاسې خبر ياست چې په شادوګانو کې **زناکارې** هم شته او بيا يې دا حديث شريف بيان کړ:



**«حَدَّثَنَا نُعَيْمُ بْنُ حَمَّادٍ حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ قَالَ: "رَأَيْتُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ قِرْدَةً اجْتَمَعَ عَلَيْهَا قِرَدَةٌ قَدْ زَنَتْ فَرَجَمُوهَا، فَرَجَمْتُهَا مَعَهُمْ»**

**ژباړه:** له **عمر بن ميمون** څخه روايت دی چې د جاهليت په دوران کې ما ښځينه شادو وليده چې ګڼ شمېر نور شادوګان ترې را چاپېره شوي وو. ټولو شادوګی په کاڼو ويشتله ځکه چې زنا يې کړې وه، ما هم د دوی سره په ګډه په کاڼو وويشته.

- لومړی ماخذ: صحيح البخاري حديث ۳۸۴۹
- دويم ماخذ: صحيح البخاري کتاب ٦٣ حديث ۷۵
- درېيم ماخذ: صحيح البخاري ۵ ټوک ۵۸ کتاب ۱۸۸ حديث

**یوه ساده ګل ور غږ کړل وېل شېخ الحدیث صیب دا شادوګانې به حتمن کافرانې وې او زموږ د هندوستان شادوګانې خو زنا نه کوي بلکې سمہ ودونه کوي.**

بل ملګري ور غږ کړل چې **شادوګانو له کومه وخته ودونه شروع کړل او نکاح ګانې یې بیا چا ور تړلي** چې اوس ورته زنا نه ویل کیږي؟

خوا کې یو بل نیمچه شېخ الحدیث همہ ناست وو هغه ویل چې دا د **جاهلیت** د وخت شادو ګانې وې او ماته دا حدیث کمزوری ښکاري.

شېخ الحدیث وېل د بخاري شریف احادیث ټول صحیح دي او په هغه کې کمزوري نشته، وېل ستاسو ایمانونه کمزوري شوي او د دواړو بحث لا روان وو چې زه ترې راووتمہ او خپل تلاوت ته کښېناستم.

# د تبلیغ اومه ورځ



پرون له ماسخوتن وروسته چې ایمانونه مو پوره په جوش کې وو شیخ الحدیث صیب وېل غواړم نن یوه لنډه او ډېره مهمه موضوع درسره شریکه کړم.

**مور، ټولو بوق بوق ورته وکتل چې خدای خیر چې دا به کومه موضوع وي؟**

شیخ الحدیث صیب وېل تاسې پوهېږئ چې ننی کوپري نړۍ زموږ د رسوال اکرم ﷺ د احایثو له برکته د **طبابت** په ډگر کې دومره پرمختگونه کړي؟

موږ وېل نه!

نو بیا شیخ الحدیث په دې مورد دغه لاندې حدیث راته بیان کړ:

> **أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، أَخْبَرَهُمَا أَنَّهُ، سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ: «فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ إِلاَّ السَّامَ»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت ابو هریرة** څخه روایت دی چې له رسول الله ﷺ څخه مې اوریدلي: **توره ځیره (زیره)** د ټولو ناروغۍ لپاره درمل ده پرته له مرګ.

- لومړی ماخذ: صحیح بخاري حدیث ۵۶۸۸
- دویم ماخذ: صحیح بخاري کتاب ۷۶ حدیث ۱۱
- درېیم ماخذ: صحیح بخاري انګلیسي ۷ ټوک ۷۱ کتاب ۵۹۲ حدیث

مورږ د حدیث له اورېدو څخه وروسته خپلو ځایونو ته ولاړو خو **محمد حسین** زموږ د تبلیغ ملګري غرمه ډېر **دال خوړلي** وو او **اسهال** شوی وو، حسین د دې حدیث په اورېدو سمدستي بازار ته تللی وو او دوه موټې توره ځیره یې هم خوړلې وه.

په سبا یې د سهار له لمانځه وروسته **شیخ الحدیث** ته یې ویل جنابه ما خو بېګا د نبي کریم ﷺ تجویز شوي دارو وخوړل او له پرونه یې زما اسهال نور هم بدتر کړی.

شیخ الحدیث وېل لومړی خو داسې ښکاري **بې کیفیته ځیره** دې خوړلې.

دویم به دې **بسم الله** هم نه وي ورباندې ویلې.

درېیم دا چې **ستا عقیده هم راته چندان سمه نه ښکاري** او ویل یې که چېرې د همدې **اسهال** له وجې مړ هم شوې نو **شهادت** به دې په نصیب شي نو حسین بېچاره هم نور غلی شو او څه یې ونه ویل.

ملګرو دغه حدیث شریف درسره شریک کړئ تر څو ناروغانو ته خدای پاک د ټولو ناروغیو څخه شفا ورپه نصیب کړي او تاسې ته به هم الله پاک عظیم اجرونه در په برخه کړي.

# د تبلیغ اتمه ورځ

زموږ یو بل د تبلیغ ملګری **یوسف علي** دا څو ورځې ځان نه وو میځلی او نن سهار یې ډېر سر ګرولو، له لمانځه وروسته شېخ الحدیث صیب ورته متوجې شو وېل ولې دومره سر ګروې خیرت خو به وي؟



**یوسف ورته ووېل لکه چې سر مې سپږې کړي.**

نو شېخ الحدیث ورته ووېل چې د الله پاک په لاره کې دا تکلیفونه راځي او حتا زموږ رسول اکرمﷺ هم له سپږو څخه په امن کې نه دی پاتې شوی نو بیا یې موږ ټول په دغه حدیث مبارک حیران دریان کړو:

**حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، أَخْبَرَنَا مَالِكٌ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَدْخُلُ عَلَى أُمِّ حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ، وَكَانَتْ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، فَدَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمًا فَأَطْعَمَتْهُ، وَجَعَلَتْ تَفْلِي رَأْسَهُ، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهْوَ يَضْحَكُ**

**ژباړه:** له **انس بن مالک** رض څخه روایت دی وایي رسول الله ﷺ د **ام حرام بنت ملحان** چې د **عباده بن صامت** مېرمن وه لیدو ته ورغلی وو او هغې رسول الله ﷺ ته ډوډۍ (خواړه) چمتو کړه او د رسول الله ﷺ **مبارک په سر کې یې سپږې کتل پیل کړل**. رسول الله ﷺ له هغه وروسته ویده شو او چې کله را ویښ شو نو مسکا یې پر مخ وه.

- لومړی ماخذ: فتح الباري شرح صحیح البخاري حدیث ٦٦٠٠
- دویم ماخذ: ابو داود جهاد څېرکی پاڼه ٣٣٧
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري کتاب ٩١ حدیث ٢٠
- څلورم ماخذ: صحیح البخاري ٩ جلد ١٣٤ حدیث

**په بل حدیث کې بیا وایي سپږې یې د مبارک له سر څخه لرې کړې.**

خبره مې تر دې وکړه چې الله په لاره کې تکالیف وي خو الله پاک دې د دې ټولو تکالیفو اجرونه درپه برخه کړي او لیکنه شریکول درسره مه هېروئ.

# د تبلیغ نهمه ورځ

ډېره موده پس زه او شېخ الحدیث صیب نن د سهار له لمانځه، ورپسې د **ایمان** او **یقین** د تقریر او د اشراق لمانځه له ادا کولو وروسته بازار ته ووتو تر څو شېخ الحدیث صیب ځان ته **شامپو** واخلي.

په لاره کې شېخ الحدیث یو دم **خېټې** ته لاس کړ او بیا **اودس ماتي** ته منډه کړه او زه د یوې ونې لاندې ورته منتظر شوم، چې بېرته راغئ نو د ماشوم ژړا یې تر غوږو شوه، سړی سمدستي له ونې گرد چاپېره را تاو شو.



**ما وېل دا څه کوي شېخ صیب؟**

وېل ما فکر وکړ که دا د ونې د ژړا اواز دی.

**ما وېل ایا ونې هم ژاړي؟**

ده وېل هو د رسول الله ﷺ مبارک په وخت کې به چې کله کله د ونو تبیت خراب او ګډوډ شو نو ژړا ګانې به يې کولې او بیا به رسول الله ﷺ مبارک دلاسا کولې.

وروسته يې په دغه مبارکو احادیثو زموږ ایمانونه را تازه کړل:



**وعَنْ جابرٍ رضي اللَّه عنْهُ قال: كانَ جِذْعٌ يقُومُ إِلَيْهِ النَّبيُّ صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم، يعْني فِي الخُطْبَةِ، فَلَما وُضِعَ المِنْبرُ، سَمِعْنَا لِلْجذْعِ مثْل صوْتِ العِشَارِ حَتَّى نَزَلَ النَّبِيُّ صَلىّ اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّم فَوضَع يدَه عليْهِ فسَكَنَ**

**ژباړه:** له **حضرت جابر** رض څخه روایت دی: د خرما د ونې یوه تنه وه چې رسول الله ﷺ به د خطبې پر مهال تکیه پرې کوله. چې کله منبر په جومات کې ورته کښېودل موږ واورېدل چې د ونې تنه لکه د **امېندواري (حاملې) اوښې** په څېر ژړا کوله. رسول الله ﷺ له منبر څخه را ښکته شو او د ونې په تنې يې مبارک لاس کېښود نو ونه خاموشه شوه.

- لومړی ماخذ: صحیح بخاري کتاب ۱۹ حدیث ۲۴
- دویم ماخذ: صحیح بخاري ۱۹ کتاب حدیث ۱۸۳۱

> **النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَلَى الْمِنْبَرِ الَّذِي صُنِعَ، فَصَاحَتِ النَّخْلَةُ الَّتِي كَانَ يَخْطُبُ عِنْدَهَا حَتَّى كَادَتْ أَنْ تَنْشَقَّ، فَنَزَلَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم حَتَّى أَخَذَهَا فَضَمَّهَا إِلَيْهِ، فَجَعَلَتْ تَئِنُّ أَنِينَ الصَّبِيِّ الَّذِي يُسَكَّتُ حَتَّى اسْتَقَرَّتْ.**
>
> **ژباړه:** له **حضرت جابر** رض څخه روایت دی د خرما هغه ونه کومې چې رسول الله ﷺ یې تر څنګ خطبه ویله نیږدې وه چې له ډېرې ژړا وچوي. رسول الله ﷺ له منبر څخه ښکته راغئ او د خرما ونه یې لکه د ماشو په څېر په غېږ کې ونیوله او د ونې ژړا خاموشه شوه.

- لومړی ماخذ: صحیح بخاري حدیث ۲۰۹۵
- دویم ماخذ: صحیح بخاري کتاب ۳۴ حدیث ۴۸
- درېیم ماخذ: صحیح بخاري انګلیسي ۳ ټوک ۳۴ کتاب ۳۰۸ حدیث

ملګرو هیله ده چې دا مبارک احادیث له خپلو ملګرو او په فېسبوکي ګروپونو کې درسره شریک کړئ او په هر شیر به الله پاک تاسې ته بې شماره ثوابونه درپه برخه کړي.

# د تبلیغ لسمه ورځ

نن سهار چې لمنځونه مو وکړل **شهاب** او یو څو نور ملګري له جمې څخه پاتې شوي وو او وروسته یې دویمه جمه کوله.

عرفان امامت کولو او زه او شېخ الحدیث صیب په دریېمه صف کې ناست وو، دوی چې کله لومړی رکعت پوره کړ او له سجدې څخه را جګېدل نو **شهاب** له **عرفان** څخه کومه چې امامت یې کولو یو څو ثانیې مخکې سر را اوچت کړ نو شېخ الحدیث صیب ماته ویل که خدای کول نو د **شهاب** له سر څخه به د خره سر جوړیږي.



**ما وېل ولې؟**

وايي له امام څخه يې مخکې سر پورته کړ او بيا يې دغه حديث شريف راته بيان کړ:

**أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ: «أَمَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ ـ أَوْ لاَ يَخْشَى أَحَدُكُمْ ـ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلَ الإِمَامِ أَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ أَوْ يَجْعَلَ اللَّهُ صُورَتَهُ صُورَةَ حِمَارٍ»**

**ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة** څخه روايت دی چې له رسول الله ﷺ فرمايلي: ايا هغه څوک چې د **امام** څخه مخکې خپل سر پورته کوي باید و وېرېږي چې خدای پاک به يې **سر** لکه **خره** او يا هم **څېره** لکه د **خره** په څېر جوړه کړي.

- لومړی ماخذ: صحيح البخاري كتاب ۱۰ حديث ۸٦ (صحيح بخاري حديث ٦۹۱)
- دويم ماخذ: سنن ابن ماجه كتاب ۵ حديث ۱۰۱۴
- درېيم ماخذ: ترمذي كتاب ٦ حديث ۳۹

**ما وېل شيخ الحديث صيب ما خو تر اوسه داسې څه پخپلو سترګو نه دي ليدلي؟**

بيا يې وېل چې هغه د **خره** صورت يې په **ظاهره** څوک نشي ليدی او يوازې الله پاک يېويني.

بيا يې وېل خر هم يو ډېر زحمت کښه حيوان دی او حتا رسول اکرم ﷺ د خره په شا لمونځ هم ادا کړی او بيا يې په دغه حديث زما ايمان او يقين نور هم را تازه کړ:

**حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَحْيَى، قَالَ قَرَأْتُ عَلَى مَالِكٍ عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي عَلَى حِمَارٍ وَهُوَ مُوَجِّهٌ إِلَى خَيْبَرَ»**

**ژباړه:** له **ابن عمر** رض څخه روايت دی چې ما رسول الله ﷺ وليد چې د **خره** پر شا سپور وو او د نفل لمونځ يې ادا کولو په داسې حال کې چې مخ يې د خيبر لوري ته وو.

- لومړی ماخذ: صحيح مسلم حديث ۷۰۰
- دويم ماخذ: صحيح مسلم كتاب ٦ حديث ۴۵
- درېيم ماخذ: انګليسي صحيح مسلم كتاب ۴ حديث ۱۵۰۱


ملګرو ليکنې او احاديث شريف درسره نوټ کوئ او له ملګرو سره يې هم شريک کړئ څکه بيا داسې شيخ الحديث نشو موندلی، الله پاک دې ده ته اوږد ژوند وربه برخه کړي چې زموږ ټولو ايمانونه يې را تازه کړل.

# د تلبيغ يوولسمه ورځ

نن د سهار له لمانځه څخه وروسته چې کله د **ايمان** او **يقين** خبرې وشوې نو زه او شېخ الحديث صيب د جومات په يوه کونج کې کښناستو، راته وايي ته پوهېږې چې زموږ او د **کوپارو** په خوراک کې الله پاک څومره لوی حکمت نغاړلی؟

ما وېل نه ولا که یې ته راته واضح کړې نو خوښ به شم.

**ویل یې دا کوپارو له ۷ کولمو سره خوراک کوي او مومن له ۱ کولمې سره.**



**حيران شوم ما وېل سبحان الله دا تحقيق دې بيا په کوم لابراتوار کې وکړ؟**

وېل دا د رسول الله ﷺ مبارک حدیث دی او بیا یې به دغه حدیث شریف زما ایمان په جوش راوستلو:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صلى الله عليه وسلم: «الْمُؤْمِنُ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ وَالْكَافِرُ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ»**

**ژباړه:** له حضرت **ابو هريرة** څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مومن (ايمانداره) شخص له **يوې کولمې** سره خوراک کوي او کافر له **اوه (۷) کولمو** سره.

- لومړی ماخذ: سنن ابن ماجه کتاب ۴ ټوک ۲۹ حدیث ۳۲۵٦
- دويم ماخذ: صحيح مسلم کتاب ۳٦ حديث ۲۴٦
- درېيم ماخذ: صحيح البخاري کتاب ۷۰ حديث ۲۲

وروسته بيا د سهار په چای شيدې تيارې وې نو شيدو ته کښېناستو، شېخ الحديث لږ شيدې په خوله تېرې کړې او بېرته يې تو کړې.

**ما وېل دا څه کوې شېخ صيب؟**

وېل شيدې غوړې وې او د نبي کريم ﷺ سنت مې پر ځای کړ او بيا يې يو ځل بيا په دغه مبارک حديث شريف زموږ او د ټولو ناستو حاضرينو ايمانونه را تازه کړل.

**عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما، أَنَّ النَّبِيَّ صلّى الله عليه وسلّم شَرِبَ لَبَناً. فَدَعَا بِمَاءٍ فَتَمَضْمَضَ، وَقَالَ: «إِنَّ لَهُ دَسَماً»**

**ژباړه:** له **ابن عباس رض** څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ شېدې وڅښلې او خوله يې پرې ومينځله (لکه په اوداسه کې چې په اوبو خوله مينځۍ او بېرته يې تو کوئ) او ويې فرمايل «دېرې غوړې دي»

- لومړی ماخذ: سنن ابو داود حديث ۱۹٦
- دويم ماخذ: صحيح بخاري کتاب ۷۴ حديث ۳۵

ملگرو ليکنې په گروپونو کې درسره شريکې کړئ تر څو زموږ د ټولو هېوادوالو ايمانونه تازه شي.

# د تلبیغ دوولسمه ورځ

نن سهار له لمانځه وروسته چې کله زموږ ایمانونه له ډېر جوش څخه په خوټکېدو راغلي وو **عرفان** د شېخ الحدیث څنګ ته راغئ.

وېل یې بېګا شپه لنډ کور ته لاړم او بچي مې یاد شوي وو نو هغه مې په غېږ کې واخیستل او یوه یې زما په جامو **متیازې (بولې)** را وکړې، خو چون وخت کم وو نو د ماسخوتن جمه رانه قضا کېده نو جامې مې بدلې نه کړې نو همغسې مې لمونځ وکړ.

وېل نو ایا زما لمونځ به شوی وي او کنه؟



**شېخ الحدیث وپوښتل چې ماشوم هلک وو او که نجلۍ؟**

عرفان وېل ولې د هلک او د نجلۍ متیازې بیا څه فرق لري؟

شېخ وېل که متیازې د هلک وي نو لمونځ دې شوی او که د نجلۍ وي نو لمونځ دې نه دی شوی.

شېخ الحدیث صیب د خپل دلیل د اثبات لپاره بیا دغه مبارک حدیث شریف ورته بیان کړ:

> **عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ النَّبِيَّ ـ صلى الله عليه وسلم: قَالَ فِي بَوْلِ الرَّضِيعِ «يُنْضَحُ بَوْلُ الْغُلاَمِ وَيُغْسَلُ بَوْلُ الْجَارِيَةِ» قَالَ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَمَّا خَلَقَ آدَمَ خُلِقَتْ حَوَّاءُ مِنْ ضِلَعِهِ الْقَصِيرِ فَصَارَ بَوْلُ الْغُلاَمِ مِنَ الْمَاءِ وَالطِّينِ وَصَارَ بَوْلُ الْجَارِيَةِ مِنَ اللَّحْمِ وَالدَّمِ»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت علي رض** څخه روایت چې رسول الله ﷺ د نوي زېږېدلي (نوزاد) ماشوم په اړه وفرمایل: د **هلک د متیازو** (بولو) پر سر باید اوبه وشیندل شي او د **نجلۍ بولې** باید ومینځل شي. بیا یې وفرمایل چې کله الله پاک ج ادم ع پیدا کولو نو حوا یې د هغه له لنډې پوښتۍ څخه پیدا کړه نو ځکه د هلک متیازې له **اوبو** او **خټې** څخه دي او د نجلۍ متیازې له **غوښې** او **وینې** څخه دي.

- لومړی ماخذ: سنن ابن ماجه کتاب ۱ حدیث ۵۶۷
- دویم ماخذ: انګلیسي سنن ابن ماجه ۱ ټوک ۱ کتاب حدیث ۵۲۵

وېل د نجلۍ متیازې تر هلک ډېرې چټلې وي ځکه چې له **غوښې** او **وینې** څخه دي نو باید خپل کالي دې مینځلي وی، خو خیر وېل اوس دې لمونځ قضایي را وګرځوه ځکه چې تېر لمونځ دې نه دی قبول شوی.

ملګرو دغه حدیث شریف درسره شریک کړئ تر څو زموږ ورونه د **هلک** او د **نجلۍ** د متیازو تر منځ فرق وکړی شي او هسې نه چې د نجلۍ په متیازو یې جامې ناولې شوي وي او لمونځ یې نه وي قبول شوی.

# د تبلیغ دیارلسمه ورځ

د **اشراق** تر لمانځه وروسته زه او شېخ الحدیث صیب له جومات څخه بهر ووتلو تر څو لږ تازه هوا تنفس کړو، په لاره کې یوه ځوان ته متوجې شوو چې له خپل **بګوان (بت)** سره یې خبرې کولې.

**زه ورغلم او ما وېل دا خو ته له تش کاڼي سره خبرې کوې نو ایا هغه ستا په خبره پوهیږي او یا ستا خبرې اوري چې ته ورته لګیا یې؟**

شېخ الحدیث صیب وېل پرې یې ږده **هندو** دی بېچاره!

ما وېل خو دا سړی باید پوه کړو او تبلیغ ورته وکړو چې کاڼي خبرې نشي کولای.

شېخ الحدیث صیب وېل کاڼي اوس خبرې نه کوي او **ګونګیان** شوي خو د نبي کریم ﷺ په زمانه کې کاڼو هم خبرې کولای شوی.



**ما وېل ایا رېښتیا کاڼو هغه وخت خبرې کولای شوی؟**

وېل هو او حتا زموږ پر رسول اکرم ﷺ به یې سلامونه هم وېل او بیا یې دغه حدیث شریف راته بیان کړ:

> **وَحَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ طَهْمَانَ، حَدَّثَنِي سِمَاكُ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «إِنِّي لأَعْرِفُ حَجَرًا بِمَكَّةَ كَانَ يُسَلِّمُ عَلَىَّ قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ إِنِّي لأَعْرِفُهُ الآنَ»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت جابر بن سمره** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه په مکه کې هغه **تیره (کاڼی)** پېژنم چې له بعثت (پیغمبری) څخه مخکې به یې ماته سلامونه کول او زه یې حتا اوس هم پېژنم.

- لومړی ماخذ: صحیح مسلم حدیث ۲۲۷۷
- دویم ماخذ: صحیح مسلم کتاب ۴۳ حدیث ۲
- دریم ماخذ: انګلیسي صحیح مسلم کتاب ۳۰ حدیث ۵٦۵۴

ملګرو حدیث شریف تر خپلې وسې د ټولنیزو شبکو له لارې درسره شریکوئ تر څو زموږ هېوادوال ټول له هغه مبارکو احادیثو څخه خبر شي کوم چې هېڅکله یې نه وو اورېدلي او له دې سره به یې ایمانونه هم تازه شي.

# د تبلیغ څوارلسمه ورځ

بېگاه شپه د **محمد حفیظ** په نامه یو بوډا راغئ او **شیخ الحدیث** صیب ته یې ویل یوه **نجلۍ** مې ډېره خوښه ده خو عمر یې تر ما ډېر کم دی او نیږدې **۲۵ کاله** را ځخه کشره ده نو که چېرې زه له هغې سره واده وکړم نو کومه ستونزه خو به نه وي؟



**له شیخ الحدیث مخکې ما ور غږ کړل ما ویل ستا وجدان تاته دا اجازه درکوي چې له دومره وړې نجلۍ سره واده وکړې، ما ویل ته شرمېږې نه؟**

په دې وخت کې یو دم شیخ الحدیث صیب غږ کړ ویل **صدیقه ته چوپ شه** زه یې ځواب ورکوم.

بیا شېخ الحدیث ورته ویل د **اسلام** له نګاه نه هېڅ کوم ممانعت نشته که له هر څومره ورې نجلۍ سره هم واده وکړې او بیا یې د **حضرت عایشې رض** په اړه دغه حدیث شریف موږ ته بیان کړ:

> **عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «تَزَوَّجَهَا وَهِيَ بِنْتُ سِتٍّ وَبَنَى بِهَا وَهِيَ بِنْتُ تِسْعٍ»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت عایشه رض** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ له حضرت عایشې سره په **شپږ ۶ کلنۍ** واده وکړ او کوروالی یې په **نهه ۹ کلنۍ** ورسره تر سره کړ.

- لومړی ماخذ:سنن نسایي حدیث ۳۲۵۵
- دویم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۵۱۳۴
- درېیم ماخذ: صحیح مسلم حدیث ۱۴۲۲

له هغه وروسته یې دغه بل حدیث هم بیان کړې وېل په یوه بل حدیث د حضرت عایشې عمر **۷ کاله** ښودل شوی.

> **عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم «تَزَوَّجَهَا وَهْىَ بِنْتُ سَبْعِ سِنِينَ وَزُفَّتْ إِلَيْهِ وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ وَلُعَبُهَا مَعَهَا وَمَاتَ عَنْهَا وَهِيَ بِنْتُ ثَمَانَ عَشْرَةَ»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت عایشه رض** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ له حضرت عایشې سره په **اوه ۷ کلنۍ** واده وکړ او چې کله یې خپل کور ته د ناوې په توګه وړله نو **نهه ۹ کلنه** وه او خپلې **نانځکې** (د ماشومانو د لوبو سامان) یې هم له ځانه سره یوورې او چې کله رسول اکرم ﷺ وفات شو نو حضرت عایشه رض **اتلس ۱۸ کلنه** وه.


- لومړی ماخذ: صحیح مسلم کتاب ۱۶ حدیث ۸۳
- دویم ماخذ: صحیح مسلم کتاب ۸ حدیث ۳۳۱۱

د حدیث پر وراندې ما نور هېڅ غږ هم ورته ونه کړ او همداسې ترې را ولاړ شوم او خپل تلاوت او نفلونو ته مې دوام ورکړ.

ملګرو مطلب پام مو وي که چېرې تاسې له هر څومره ورې نجلۍ سره واده وکړئ نو د دین له پلوه کومه ستونزه پکښې نشته خو ښایي له **وجداني عذاب** سره به مخ شئ، بیا هم د د نورو د مالوماتو لپاره دغه مبارک احادیث شریف درسره شریک کړئ.

# د تبلیغ پنځلسمه ورځ

پرون ماسخوتن د حفیظ له کیسې څخه نیږدې جنجال جوړ شوی وو نو نن د سهار له لمانځه څخه وروسته شېخ الحدیث صیب چې کله د **ایمان** او **یقین** له تقریر څخه فارغ شو نو ویل یې له **ځوانو نجونو** سره په ودونو کې د **اسلام** او **شریعت** له پلوه هېڅ کوم ممانعت نشته.



وېل زموږ رسول اکرمﷺ به صحابه کرامو ته فرمایل چې تاسې **له پېغلو او ځوانو نجونو سره ودونه وکړئ** تر څو له **یو بل سره لوبې** وکړی شئ ځکه **زړې په لوبو نه پوهېږي** نو هغوی لوبې نشي کولای.

بیا یې دغه حدیث مبارک راته بیان کړ:

> **حَدَّثَنَا آدَمُ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنَا مُحَارِبٌ، قَالَ سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، رضى الله عنهما يَقُولُ تَزَوَّجْتُ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «مَا تَزَوَّجْتَ» فَقُلْتُ تَزَوَّجْتُ ثَيِّبًا. فَقَالَ «مَا لَكَ وَلِلْعَذَارَى وَلِعَابِهَا». فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَمْرِو بْنِ دِينَارٍ فَقَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يَقُولُ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «هَلاَّ جَارِيَةً تُلاَعِبُهَا وَتُلاَعِبُكَ»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت جابر رض** څخه روایت دی وایي چې کله ما واده وکړ نو رسول الله ﷺ راته وویل «له څه ډول مېرمنې سره دې واده کړی؟ ما ځواب ورکړ له **مشرې ښځې** سره. رسول الله ﷺ و فرمایل «**ولې پېغلې (باکرې) دې نه خوښېږي چې مینه ورسره وکړې**». همداراز حضرت جابر وویل چې رسول الله ﷺ و فرمایل «**ولې له ځوانې نجلۍ سره واده نه کوې تر څو ته له هغې سره او هغه ستا سره لوبې وکړي؟**».

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ٦٧ حدیث ١٨
- دویم ماخذ: صحیح مسلم کتاب ١٧ حدیث ٧٣
- درېیم ماخذ: جامع ترمذي کتاب ١١ حدیث ٢١

د همدې اړوند د **صحیح بخاري په یوه بل حدیث ٦٣٨٧** کې راځي:

> **حضرت جابر** رسول الله ﷺ ته وفرمایل زما پلار وفات شوی او له هغه څخه **٧ یا ٩ یتیمانې** نجونې پاتې دي او ما نه غوښتل چې د دوی په څېر یوه بله وړه کور ته راولم نو ځکه مې له مشرې سره واده وکړ تر څو د دوی پالنه وکړي.


دې ځینو ته چې متوجې شوم نو خدای شته دې ناستو ډېرو سپینږیرو او مشرانو ته دغه حدیث شریف ډېر سخت خوند ورکړ او د حدیث شریف په اورېدو یې **خولو اوبه وکړې**.

ټولو وېل **سبحان الله** ځار له خپل نبي شم چې دومره زموږ غم ورسره وو او **١۴٥٠ کاله** مخکې یې هم د خپل امت د خواهشاتو په اړه فکر کړی وو.

# د تبليغ شپاړسمه ورځ

پرون بېگا د ماسخوتن لمنځونه مو چې ادا کړل نو شيخ الحديث صيب ته مې ووېل ما وېل پرون مې پر فېسبوک ليکنه کړې وه او زموږ هېوادوالو د **حضرت عايشې رض** او **رسول اکرم** ﷺ د واده په اړه ډېر توند غبرگونونه ښکاره کړي او ډېری يې وايي حضرت عايشه **شپږ ٦ کلنه** نه بلکې **نهه ٩ کلنه** وه.

ما وېل يوې بلې ډلې خلکو بيا په دې خبره نيوکه کړې وه چې دا يو **غير وجداني** عمل دی چې **تنکۍ ماشومه** دې يوه **سپينږيري بوډا** ته په نکاح ورکړل شي.



شيخ الحديث راته ووېل مامد صديقه **زموږ په دين کې وجدان چندان اهميت نه لري** او له **ورو ماشومانو سره واده کومه گناه نه ده بلکې دا کار نبي کريم** ﷺ **او ډېرو صحابه کرامو کړی** نو راته ويل يې **تاته د پيغمبر او صحابه وو سنت مهم دي او که خپل وجدان؟**

بیا یې ګڼ شمېر حوالې راسره شریکې کړې او ویل یې **دین چې ګټې نو کله کله به له وجدان څخه ورته تېرېږې ځکه یو بام او دوه هواوې نه کیږي:**



**۱: حضرت علي** خپله وړه لور **ام کلثوم** حضرت **عمر فاروق** ته چې دویم خلیفه وو هغه ته په وړوکوالي کې واده کړه: **(السنن الکبری، للبیهقي نمبر ۱۳۷۱)**

**۲: عبدالله بن عمرو** له خپل پلار **عمر بن عاص** څخه ۱۲ کاله کشر وو: **(المعارف لابن قتیبه پاڼه ۲۷۶)**

**۳: ابو عاصم النبیل** فرمایلي دي چې زما مور د هجرت په ۱۱۰م کال او زه په ۱۲۲ م کال پیدا شوی یم **(سیر اعلام النبلاء جلد ۷ رقم ۱۶۲۷)**

**۴:** امام شافعي څخه روایت ده چې ما یو وخت مدینه کې یوه **۲۱ کلنه** ښځه ولیدله چې هغه انا (نیا) وه **(تهذیب تاریخ دمشق الکبیر جلد ۱ پاڼه ۴۴۰ طبع بیروت)**

**۵:** د **زبیر** د لور نکاح له **قدامه بن مظعون** سره هغه وخت وشوه کوم وخت چې یې لور پیدا شوه **(المرقات المفاتیح جلد ٦ پاڼه ۲۰٦)**

**٦: عبدالله بن صالح** وایي چې زموږ په همسایه کور کې یوه ماشومه په **نهه کلنۍ** کې حامله شوې وه او په دې روایت کې داسې هم لیکلي چې یو سړي **عبدالله بن صالح** ته ویلي وو چې زما هم لور په لس کلنۍ کې حامله شوې وه. **(کامل لابن عدی جلد ۵ رقم ۱۰۱۵)**

**۷:** له یو څخه زیاتو صحابوو له کم عمره جینکو سره ودونه کړي دي **(ترکماني البیهقي جلد اول پاڼې له ۷٦ تر ۷۹)**

او نن سهار چې څنګه ټول له خوبه را ویښ شوو نو شېخ الحدیث وفرمایل چې دا څو ورځې ستاسو پوزو ته متوجې شوی یم او په پوزو کې مو بیخي ډېر **شیطانان** را پیدا شوي.




موسی ور غبر کړ چې شیخ الحدیث صیب تاسې څه پوه شوئ، هغه وېل دا مې د حدیث خبره درته وکړه او بیا یې له اوداسه مخکې ټولو ته دغه حدیث شریف بیان کړ:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «إِذَا اسْتَيْقَظَ ـ أُرَاهُ ـ أَحَدُكُمْ مِنْ مَنَامِهِ فَتَوَضَّأَ فَلْيَسْتَنْثِرْ ثَلاَثًا، فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَبِيتُ عَلَى خَيْشُومِهِ».**


**ژباړه:** له **حضرت ابو هریرة** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: ستاسې څخه چې کله کوم یو له خوبه را ویښ شي او اودس کوي هغه باید په خپله پوزه کې اوبه واچوي او درې ځله یې سخ کړي ځکه چې **شیطان یې د پوزې په پاسنۍ برخه کې ټوله شپه تېره کړې وي**.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۳۲۹۵
- دویم ماخذ: سنن نسایي ۱ ټوک ۱ کتاب ۹۰ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح مسلم حدیث ۲۳۸

# د تبلیغ اوه لسمه ورځ

پرون غرمه زه او شیخ الحدیث له غرمې وروسته بهر ووتلو ما وېل راځه چې لږ د باندې وګرځو، په لاره روان وو چې د هندوانو یو درمسال په مخه راغی او یو **هندو پنډت** پکښې ناست وو.

ما شیخ ته وېل راځه چې په دې هندو خپل بخت و ازمویو ګوندې خدای پاک یې د دین لارې ته برابر کړي او دواړه ورغلو او دعوت مو ورته شروع کړ.



د اسلام مبارک دین په اړه مو مالومات ورکړل او دا مو ورته وویل چې د اسلام مبارک دین د نړۍ یو له **چټک خپرېدونکو دینونو** څخه دی او بیا مو د **قران عظیم الشان معجزې** ورته بیان کړې، چې کله زموږ خبرې ختمې شوې نو راته ویل یې چې **ایا ستاسې الله د ټولو کائیناتو خالق دی او که یوازې د مسلمانانو؟**

**ما وېل د ټولو! بیا یې وېل چې د ټولو دی نو ستاسې الله پاک ولې موږ ته په قران کې ښکنځل کړي؟**

ما وېل دا څه چټیات غږوې او څرنګه ښکنځل یې درته کړي؟

ویل یې الله پاک غیر مسلمانانو ته د **بې وقوفو**، **بیزوګانو**، **حرامیانو**، **خرو**، **سپیو** او **خنزیرانو** خطاب کړی او بیا یې خپله کتابچه را واړوله او دغه ایات شریف یې له ترجمې سره راسره شریک کړل:

۞ وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ قَالُوا أَنُؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاءُ ۗ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاءُ وَلَٰكِن لَّا يَعْلَمُونَ ﴿١٣﴾ **سورة البقرة**

**ژباړه:** او کله چې دوی ته وویل شي: تاسو ایمان راوړئ، لکه څنګه چې خلقو (صحابه وو) ایمان راوړی دی، نو دوی وایي: ایا مونږ ایمان راوړو، لکه څنګه چې **بې وقوفو (کم عقلو)** ایمان راوړی دی؟ خبردار! **یقینًا همدوی بې وقوفه دي**، او لېکن دوی نه پوهېږي.

۞ وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِينَ اعْتَدَوْا مِنكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُونُوا قِرَدَةً خَاسِئِينَ ﴿٦٥﴾ **سورة البقرة**

**ژباړه:** او یقینًا یقینًا هغه خلق تاسو ته معلوم دي، چې له تاسو څخه یې د خالي د ورځې په هکله زیاتی کړی و، نو مونږ هغوی ته وویل: **تاسو ذلیله بیزوګان (شادوګان) شئ.**

۞ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَٰذَا ۚ وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ إِن شَاءَ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٢٨﴾ **سورة التوبة**

**ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! په رښتیا هم دا خبره ده چې **مشرکان نجس** دي، نو مسجد حرام ته دې له خپل دې کال نه وروسته نه نژدې کېږي او که تاسو له کومې غریبۍ نه وېرېږئ، نو ژر به الله تاسو له خپله فضله غنیان کړي، که هغه وغواړي، بېشکه الله ښه پوه، ښه حکمت والا دی.

۞ قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ اللَّهِ ۚ مَن لَّعَنَهُ اللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوتَ ۚ أُولَٰئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَاءِ السَّبِيلِ ﴿٦٠﴾ **سورة المائدة**

**ژباړه:** ته ووایه! ایا زه تاسو ته د الله په نیز د جزا په لحاظ سره له دوی نه د بدترو خلقو خبر در نه کړم؟ (دا) هغه څوك دي چې الله په دوی **لعنت کړی** دی او په دوی یې **غضب کړی** دی او له دوی نه یې **بیزوګان** او **خنزیران** جوړ کړي دي او دوی (هغه څوك دي چې یې) د طاغوت عبادت کړی دی، دغه کسان د ځای په لحاظ سره ډېر بدتره دي او له حقې لارې نه ډېر ګمراه دي.

۞ وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَٰكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ ۚ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِن تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَث ۚ ذَّٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ فَاقْصُصِ الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾ **سورة الأعراف**

**ژباړه:** او که چېرې مونږ غوښتلی (، نو) خامخا به مو هغه په دغو (ایتونو) سره پورته کړی و او لېکن هغه ځمکې ته پوخ مایله شو (هغه ځمکې ته مینه وکړه) او د خپل خواهش پیروي یې شروع کړه، نو د هغه مثال د **سپي** په شان دی، که ته په هغه حمله وکړې، (نو هغه) ژبه راوباسي او تیګاه وهي او که ته یې پرېږدې (بیا هم) ژبه راوباسي او تیګاه وهي، دا د هغو خلقو مثال دی چې زمونږ د ایتونو تکذیب یې کړی دی، نو ته (دا) قصې بیان کړه، د دې لپاره چې دوی ښه فکر وکړي.

۞ وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ وَالْإِنسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ بِهَا ۚ أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ ﴿١٧٩﴾ **سورة الأعراف**

**ژباړه:** او یقینًا یقینًا مونږ د جهنم لپاره ډېر زیات داسې پېریان او انسانان پیدا کړي دي چې د هغوی زړونه شته (خو) په هغو سره هغوی نه پوهېږي او د هغوی سترګې شته (خو) لیدل پرې نه کوي او د هغوی غوږونه شته (خو) اورېدل پرې نه کوي، دغه خلق د **څارویو** په شان دي، بلکې دوی زیات ګمراه دي، همدغه خلق غافله دي.

﴿وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ قَالُوا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ﴿٢١﴾ إِنَّ شَرَّ الدَّوَابِّ عِندَ اللَّهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ الَّذِينَ لَا يَعْقِلُونَ ﴿٢٢﴾ **سورة الأنفال**

**ژباړه:** او تاسو د هغو خلقو په شان مه کېږئ چې ویل یې: مونږ واورېدل، حال دا چې دوی به نه اورېدل (فایده من اورېدل) ﴿٢١﴾ بېشکه د الله په نیز په **حیواناتو** کې تر ټولو بدتر **کاڼه** خلق دي، **ګونګیان** دي، هغه چې له عقل نه کار نه اخلي.

﴿أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾ **سورة الفرقان**

**ژباړه:** ایا ته ګمان کوې چې په رښتیا د دوی زیاتره اوري، یا له عقل نه کار اخلي، دوی نه دي مګر په شان د **څارویو** بلکې دوی د لارې په لحاظ زیات ګمراه دي.

﴿إِنَّ اللَّهَ يُدْخِلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يَتَمَتَّعُونَ وَيَأْكُلُونَ كَمَا تَأْكُلُ الْأَنْعَامُ وَالنَّارُ مَثْوًى لَّهُمْ ﴿١٢﴾ **سورة محمد**

**ژباړه:** بېشکه الله به هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېك عملونه یې کړي دي، داسې جنتونه ته داخلوي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي او هغه کسان چې کافران شوي دي، دوی فایده اخلي او خوراك کوي لکه څنګه چې **څاروي** خوراك کوي او اور د دوی استوګنه ده.

﴿فَشَارِبُونَ شُرْبَ الْهِيمِ ﴿٥٥﴾ **سورة الواقعة**

**ژباړه**: (ګمراهانو) نو د ډېرو تږو **اوښانو** د څښلو په شان به څښونکي يئ.

﴿عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴿١٣﴾ **سورة القلم**

**ژباړه:** (کافر) ډېر بد خویه دی (او) له دغو (عیبونو) نه پس **بد اصله (حرامي هم)** دی.

﴿ مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَارًا ۚ بِئْسَ مَثَلُ الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ﴿٥﴾ **سورة الجمعة**

**ژباړه:** د هغو کسانو حال چې په هغوی باندې تورات وربار کړی شوی و (د تورات مکلف کړی شوي وو)، بیا دوی هغه پورته نه کړ؛ د **هغه خره** د حال په شان دی چې کتابونه یې په شا کړي وي، د هغو کسانو بد مثال (حال) دی چې د الله د ایتونو تکذیب کوي او الله ظالم قوم ته هدایت نه کوي.

﴿ فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ﴿٤٩﴾ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ﴿٥٠﴾ **سورة المدثر**

**ژباړه**: نو په دوی (کافرانو) څه شوي دي چې له نصیحت (قرآن) نه مخ گرځوونکي دي ﴿٤٩﴾ گویا کې دوی **تښتېدونکي ځنگلي (وحشي) خره** دي.

شیخ الحدیث ورته ویل چې هغه یې **کوپار** لکه **یهود** او **نصارا** یاد کړي نه تاسې **هندوان**.

پنډت ویل **ماته دروغ مه وایه** ټول کوپار یې یاد کړي او موږ یې هم یاد کړي یو نو ځئ ورکېږئ له دې ځایه.

بیا یې ویل **تاسې لوموی خپل ځانونه جوړ کړئ** وروسته بیا نورو ته دعوت ورکړئ، بل یې دا خبره وکړه چې **دا ستاسې څرنگه الله دی چې یو ځل پخپله انسانان جوړ کړي او بیا ښکنځل ورته کوي؟**

خدای شته زه او شیخ الحدیث نیږدې وو چې ورسره په جنگ شو د دې هندو د بچي سره خو بیا مو **ولاحول** وویل او ترې مخ په جومات روان شوو موږ وېل چې تبلیغ مو خراب نشي.

دې ځینې هندوانو ته چې گورم قسم دی زموږ تر ملایانو هم زموږ په دین کې ډېره مطالعه لري. ملگرو دا خبرې باید له علماو سره شریکې شي او علما کرام باید په دې موضوع لږ رڼا واچوي او همدا راز له خپلو ملگرو سره هم دا متن شریک کړئ.

# د تبلیغ اته لسمه ورځ

پرون د ماښام وخت وو د باندې په ازاده فضا کې یو چا اور بل کړی وو، زه او شېخ الحدیث دواړه د اور خواته کښېناستو نو په دې وخت کې د شېخ الحدیث صیب د دېوال پر سر **لېکې** ته پام شو او غاښونه چیچل یې ورته شروع کړل.

**ما وېل خیر خو دی شېخ الحدیث صیب دا څه شي ته دومره په غوسه یې؟**

وېل هغه لېکې ته او که چېرې دغه **لېکه** ماته په گوتو راشي نو سر به یې ترې قلم کړم او غوښه به یې په سیخ کې کباب کړم.



**ما وېل وه شېخ صیب دغه بېچاره لېکې تاته کوم تاوان در رسولی چې دومره ورته په غوسه یې؟**

وېل یې دې ذلیله لېکې چې کله **نمرود** حضرت **ابراهیم خلیل الله** په اور واچولو نو دغه لېکې **اور ته پوکی کول.**

بیا یې په دغه حدیث شریف زموږ ناستو کسانو ایمان را تازه کړل:

**حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ سَائِبَةَ، - مَوْلاَةِ الْفَاكِهِ بْنِ الْمُغِيرَةِ - أَنَّهَا دَخَلَتْ عَلَى عَائِشَةَ فَرَأَتْ فِي بَيْتِهَا رُمْحًا مَوْضُوعًا فَقَالَتْ يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ مَا تَصْنَعِينَ بِهَذَا قَالَتْ نَقْتُلُ بِهِ هَذِهِ الأَوْزَاغَ فَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ «أَخْبَرَنَا أَنَّ إِبْرَاهِيمَ لَمَّا أُلْقِيَ فِي النَّارِ لَمْ تَكُنْ فِي الأَرْضِ دَابَّةٌ إِلاَّ أَطْفَأَتِ النَّارَ غَيْرَ الْوَزَغِ فَإِنَّهَا كَانَتْ تَنْفُخُ عَلَيْهِ فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ ـ صلى الله عليه وسلم ـ بِقَتْلِهِ»**

**ژباړه:** له **سائبه** څخه روایت دی کوم چې د فاکه بن مغیره غلامه وه چې کله د **حضرت عایشه رض** کور ته ورننوتله نو د هغې په کور کې یې نېزه ولیده او ویې ویل: **یا ام المومنین** (د مومنانو مورې) په دې باندې څه کوې؟ حضرت عایشې رض وفرمایل: **موږ په دې لټکې (څرموښکی) وژنو**. د الله رسول ﷺ موږ ته وویل چې کله حضرت ابراهیم ع اور ته ور واچول شو نو هېڅ داسې ځناور نه وو چې د **حضرت ابراهیم ع** د اور څخه را ایستلو یا ژغورلو هڅه یې نه کوله **مګر لټکې اور ته لا پوکی پسې کولو** نو ځکه **رسول الله** ﷺ **موږ ته امر وکړ چې ویې وژنئ**.

- لومړی ماخذ: انګلیسي ابن ماجه ۴ ټوک کتاب ۲۸ حدیث ۳۲۳۱
- دویم ماخذ: عربي ابن ماجه کتاب ۲۸ حدیث ۳۳۵۳



خواکې یو تازه مسلمان شوی هندی **(راجا)** ناست وو هغه شېخ الحدیث صیب ته وویل ما خو چې لوستلي نو **حضرت ابراهیمہ ع له رسول الله څخه څو سوه کاله مخکې ژوند کولو نو زمونږ پیغمبر خو هغه وخت نه وو نو دا د لټکې خبره او کیسه چا زمونږ پیغمبر ص ته وکړه؟**




شېخ ویل دا کار **جبرائیل امین** کړی او بیا یې ویل **دوه میاشتې دې لا نه پوره کیږي او بیا دې سمدستي پوښتنې پیل کړې.**

**وېل که غواړې سمہ مسلمان پاتې شې نو د الله پاک په کارونو او زمونږ د مبارک دین په اړه به ډېرې پوښتنې نه کوې ځکه چې بیا دې عقیده خرابیږي.**



هسې مې له ځان سره فکر کاوه ما وېل دا عرب چې لټکې کباب کوي او خوري یې نو دا د همغه زمانې دښمني ورسره پالي.

ملګرو تاسې له لټکو سره څرنګه چلند کوئ؟

**ایا تر دې دمه مو په کومه لټکه ځانونه غازیان کړي او کنه؟**

# د تبليغ نولسمه ورځ

پرون شپه د **عرفان** خېټه د ډېرو ګډوډ خوړو په وجه خرابه شوې وه او هر دم به يې تشناب ته منډې کړې، شېخ الحديث چې خبر شو نو وېل ماته د رسول الله ﷺ يو حديث راپه ياد شو چې يو شخص ته يې د **اسهال** پره مهال د **شاتو د خوراک** سپارښتنه کړې وه.



وېل که چېرې عقيده دې راسخه وي نو تکليف به دې ورسره رفع شي او که عقيده دې لکه د دې ځينو ګمراهانو په څېر وي نو ښايي حالت به دې نور هم ورسره خراب شي.

بيا يې دغه مبارک حديث بيان کړ او وېل ضمه دې په خپله غاړه ده چې عملي کوې يې او کنه:

**عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ إِنَّ أَخِي اسْتَطْلَقَ بَطنُهُ. فَقَالَ «اسْقِهِ عَسَلاً». فَسَقَا. فَقَالَ إِنِّي سَقَيْتُهُ فَلَمْ يَزِدْهُ إِلاَّ اسْتِطْلاَقًا. فَقَالَ «صَدَقَ اللَّهُ وَكَذَبَ بَطْنُ أَخِيكَ». تَابَعَهُ النَّضْرُ عَنْ شُعْبَةَ.**

**ژباړه:** له **حضرت ابي سعيد** څخه روايت دی چې يو شخص رسول الله ﷺ ته راغئ او ويل يې «زما ورور **اسهال** دی» رسول الله وفرمايل «**شات (عسل)** ورکړه چې ويې څښي.» نوموړی شخص بېرته پيغمبر ﷺ ته راغئ او ويل يې په ورور مې شات وڅښل **مګر د هغه حالت يې لا پسې خراب کړ**. رسول الله ﷺ وفرمايل الله پاک رېښتيا ويلي او **ستا د ورور خېټې دروغ** ويلي.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۷٦ حدیث ۳۳
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۷ ټوک ۷۱ حدیث ٦۱۴
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۵۷۱٦

**عرفان** وېل شېخ صیب **زما عقیده فولادي** ده او د رسول اکرمﷺ په هره خبره زما پوره یقین دی او دا کار به نن شپه کوم.

عرفان خوارکی مې چې نن سهار ولید نو نور یې هم تکلیف ډېر شوی وو او شېخ الحدیث ورته وویل ګوره ما نه وو درته ویلي چې که چېرې عقیده دې سمه نه وي نو حالت دې نور هم خرابوي.

**بیا زه ورغلم او یو پاکټ متوږین ګولی مې ورکړې ما وېل د هغو خلکو چې عقیدې خرابې وي نو باید له ګولیو څخه کار واخلي.**


ملګرو هیله ده چې مطلب تر خپلې وسې په فېسبوکي ګروپونو کې درسره شریک کړئ او هم یې له خپلو ملګرو سره شریک کړئ تر څو ایمانونه یې تازه شي.

# د تبلیغ شلمه ورځ

پرون بېگا د **محسن** په نامه یو شخص راغئ او شېخ الحدیث صیب ته یې **ویل کله چې رسول اکرمﷺ د جنسي کمزورتیا سره مخ شو نو هغه د څه شي غوښه خوړلې وه؟**

شېخ الحدیث وېل دا څه گډې وډې وایې؟

محسن ورته وویل دا مې د **ابن سعد** په **لطبقات الکبری** کتاب کې لوستي وو او لاندې متن یې له شېخ الحدیث سره شریک کړ:




> **الواقدي فرمایلي: رسول اکرمﷺ به ویل زه له هغو کسانو څخه یم چې د کوروالي (جماع) لپاره لږ ځواک لرم. بیا الله پاک ماته یوه کاسه پخه غوښه را ولېږه، چې کله مې ترې (غوښه) وخوړه نو له هغه وروسته مې ځواک (طاقت) پیدا کړ چې هرکله به مې کار (کوروالی) کول غوښتل.**

- ماخذ: د ابن سعد (الطبقات الکبری) کتاب (۸ ټوک او ۲۰۰ پاڼه)

شېخ الحدیث لومړی په چورت کې لاړ او بیا یې ویل چې نه **دا ماته د کوپارو دسیسه ښکاري** زموږ پیغمبرﷺ هېڅکله هم له **جنسي کمزورتیا** سره نه دی مخ شوی.

وېل هغه به په یوه شپه له **نهو ۹ ببیانو** سره په **یوه غسل مباشرت** کولو او هغه ته الله پاک د **دېرشو ۳۰ نارینه** وو طاقت ورکړی وو نو دا خبره هېڅ امکان نه لري.

بیا یې په لاندې مبارکو احادیثو موږ ټول ناست کسان حیران کړو:

> **عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ – صلى الله عليه وسلم ـ كَانَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ فِي غُسْلٍ وَاحِدٍ**
>
> **ژباړه:** له **حضرت انس رض** څخه روایت دی چې رسول اکرم ﷺ به په **یوه غسل** پر ټولو مېرمنو باندې را ګرځېدو.

- لومړی ماخذ: سنن ابن ماجه ۱ ټوک ۱ کتاب ۵۸۸ حدیث
- دویم ماخذ: سنن ابن ماجه ۱ کتاب ٦٣١ حدیث
- درېیم ماخذ: سنن نسايي ۱ کتاب ۲٦٦ حدیث
- څلورم ماخذ: سنن نسايي حدیث ۳۱۹۸

> **عَنْ أَنَسٍ ـ رضى الله عنه ـ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ فِي لَيْلَةٍ وَاحِدَةٍ، وَلَهُ تِسْعُ نِسْوَةٍ. وَقَالَ لِي خَلِيفَةُ حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، أَنَّ أَنَسًا، حَدَّثَهُمْ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم**
>
> **ژباړه**: له **حضرت انس رض** څخه روایت دی چې رسول اکرم ﷺ به په یوه شپه (د جماع لپاره) پر ټولو مېرمنو باندې را ګرځېدو او شمېر یې ۹ نهه وو.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۵۰٦۸
- دویم ماخذ: صحیح البخاري کتاب ٦٧ حدیث ٦
- درېیم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۷ ټوک ٦٢ کتاب حدیث ٦

ورسته یې بیا دا حدیث شریف راته بیان کړ:

> **عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ حَدَّثَنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يَدُورُ عَلَى نِسَائِهِ فِي السَّاعَةِ الْوَاحِدَةِ مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَهُنَّ إِحْدَى عَشْرَةَ. قَالَ قُلْتُ لأَنَسٍ أَوَكَانَ يُطِيقُهُ قَالَ كُنَّا نَتَحَدَّثُ أَنَّهُ أُعْطِيَ قُوَّةَ ثَلاَثِينَ. وَقَالَ سَعِيدٌ عَنْ قَتَادَةَ إِنَّ أَنَسًا حَدَّثَهُمْ تِسْعُ نِسْوَةٍ.**
>
> **ژباړه:** له **قتاده** څخه روایت دی چې **حضرت انس رض** ویلي چې: رسول اکرم ﷺ به په یوه شپه او ورځ کې پر ټولو مېرمنو باندې را ګرځېدو چې شمېر یې **یوولس ۱۱ یوولس** وو. ما له حضرت انس رض څخه پوښتنه وکړه چې **ایا رسول الله ﷺ یې ځواک (طاقت) لري؟** حضرت انس رض وویل. **«موږ به ویل چې رسول الله ﷺ ته د دېرشو ۳۰ دېرشو نارینه وو ځواک ورکړل شوی».** سعد له قتاده څخه روایت کړی چې حضرت انس ورته یوازې د **نهو ۹** مېرمنو په اړه ویلي وو نه **۱۱ یوولس**.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۲٦۸ باب الغسل
- دویم ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۵ حدیث ۲۱
- دریم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۱ ټوک ۵ کتاب حدیث ۲٦۸

ملګرو تاسې علما کرام دلته را منشن کړئ چې د دې غوښتې په اړه امت ته لږ وضاحت ورکړي او موږ هم حیران یو چې اوس **د الطبقات الکبری** خبره ومنو او که د **شیخ الحدیث**؟

# د تبلیغ یویشتمه ورځ

پرون مابنام چې کله موږ په جمه لمنځونه وکړل نو **عرفان** جومات ته ناوخته راغئ او جمه ور څخه تېره شوې وه، عرفان او **محسن** دواړو په دویمه جمه کې برخه واخیسته.




زه او **شیخ الحدیث** دباندې ناست وو نو نا څاپه شیخ الحدیث **عرفان** او **محسن** ته متوجې شو چې لږ له صف څخه کاږه ولاړ وو نو شیخ الحدیث راته ویل چې **که خدای کول نو د دې دواړو مخونه به بدلیږي**.

**ما وېل ولې او څه شي ته به بدلیږي؟**

وېل ښایې یابه مسخه شي او یا به هم کوم بل څه ترې جوړ شي چې صرف الله پاک ته د هغه مالومات شته.

**ما وېل ولې وجه يې څه ده او په څه گناه؟**

وېل دا څکه چې **د لمانځه صفونه یې کاږه دي** او رسول الله مبارک موږ ته دا خبره په حدیث شریف کې کړې او بیا یې دغه حدیث شریف راته بیان کړ:

> **قَالَ سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ، يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللَّهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ».**
>
> **ژباړه:** له **نعمان بن بشیر** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: صفونه (قطارونه) مو سیده کړئ کنه الله پاک به مو مخونه بدل کړي.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۱۰ حدیث ۱۱۲
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۱ ټوک ۱۱ کتاب حدیث ۶۸۵
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۷۱۷

بیا د لمانځه په منځ کې عرفان **پاس اسمان ته وکتل** نو شیخ الحدیث وېل اوس نو که خدای کول الله به یې د سترګو دید هم ترې واخلي او ښایي ړوند به هم شي.

**ما وېل اوس څه ټکه را ولوېده او ولې؟**

وېل دا ګمراه په لمانځه کې اسمان ته ګوري!

**ما وېل نو کله کله خو زه هم اسمان ته ګورم لیکن د سترګو دید خو مې تر اوسه کم شوی نه دی!**

وېل ستا عقیده به خرابه شوې وي نو څکه سترګې دې روغې پاتې شوې او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> **عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ يَرْفَعُونَ أَبْصَارَهُمْ إِلَى السَّمَاءِ فِي الصَّلاَةِ أَوْ لاَ تَرْجِعُ إِلَيْهِمْ»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت جابر بن سمره** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: هغه کسان چې د لمانځه پر مهال اسمان ته سترګې نیسي باید دا کار بند کړي کنه د سترګو دید به له لاسه ورکړي (ړوند به شي).

- لومړی ماخذ: صحیح مسلم کتاب ۴ حدیث ۱۲۸
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح مسلم کتاب ۴ حدیث ۸۶۲
- درېیم ماخذ: صحیح مسلم حدیث ۴۲۸

کله چې د دوعا وخت شو نو عرفان بیا پاس اسمان ته مخ کړ او لاسونه یې جګ کړل او شیخ وېل اوس نو که خدای کول بیخي سترګې به یې بیرون را ووځي.

**ما وېل شيخ صيب دا څه ګډې وډې وایې اوس بیا څه تندر را ولوېد؟**

وېل دا ګمراه په دوعا کې پاس اسمان ته ګوري او نبي کریم ﷺ فرمایلي چې د دوعا په وخت کې که څوک اسمان ته سترګې نیول بند نه کړي نو سترګې به یې را ووځي او بیا یې دا حدیث مبارک راسره شریک کړ:

> **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ رَفْعِهِمْ أَبْصَارَهُمْ عِنْدَ الدُّعَاءِ فِي الصَّلاَةِ إِلَى السَّمَاءِ أَوْ لَتُخْطَفَنَّ أَبْصَارُهُمْ».**
>
> **ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: خلک باید د دوعا پر مهال اسمان ته سترګې اړول (نیول) بند کړي کنه سترګې به یې و ایستل شي.

- لومړی ماخذ: صحيح مسلم كتاب ۴ حديث ۱۲۹
- دویم ماخذ: انګلیسي صحيح مسلم كتاب ۴ حديث ۸۶۳
- دریم ماخذ: صحيح مسلم حديث ۴۲۹

ملګرو د شیخ الحدیث دغه مبارک احادیث د لمانځه او دوعا پر مهال یاد ساتئ او اسمان ته ډېر مه ګورئ هسې نه چې خدای مکړه سترګې مو را ونه وځي.

# د تبلیغ دوه ویشتمه ورځ

پرون مابنام شېخ الحدیث راته ویل **صدیقه!** ستا نور تبلیغ بس دی ځکه زه دې په ډېرو حدیثونو ستړی کړی یم.
ما وېل شېخ صیب داسې په اسانه خو ولا که رانه خلاص شئ، تاسې په زور تبلیغ ته راوستی یم نو اوس مو زه چېرې پرېږدم او بل دا چې د الله په لاره کې خو تکلیفونه وي او ته څه خبر یې چې زما د هېوادوالو ستا د مبارکو احادیثو په وجه څومره ایمانونه تازه شوي.

په دې وخت کې رمضان را منډه کړه وېل د **عرفان پلار** ډېر سخت ناروغه دی، بیا زه او شېخ الحدیث یې پوښتنې ته ورغلو.



چې کله مو د عرفان پلار ولید نو حالت یې سم نه وو او د عرفان کوچنی ورور ورغئ چې پلار ته اوبه ورکړي او **پلار یې یو شړنگ د عرفان د کوچني ورور له مخ څخه تېر کړ**.

شیخ ماته او ما شیخ ته حیران وکتل نو وېل ښایي **ملک الموت** به د عرفان پلار ته د هغه د کشر ورور په شکل کې راغلی وي او پلار به یې د ملک الموت خیال پرې کړی وي.

ما وېل دا څه وایې شیخ صیب؟

شیخ وېل همداسې یو ځل **ملک الموت** حضرت **موسی ع** ته راغلی وو او حضرت موسی داسې یوه کلکه څپېړه ورکړې وه چې یوه سترګه یې هم ورباندې ړنده کړې وه او بیا یې دغه مبارک حدیث راته بیان کړ:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «أُرْسِلَ مَلَكُ الْمَوْتِ إِلَى مُوسَى ـ عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ ـ فَلَمَّا جَاءَهُ صَكَّهُ فَرَجَعَ إِلَى رَبِّهِ فَقَالَ أَرْسَلْتَنِي إِلَى عَبْدٍ لاَ يُرِيدُ الْمَوْتَ. فَرَدَّ اللَّهُ عَلَيْهِ عَيْنَهُ وَقَالَ ارْجِعْ فَقُلْ لَهُ يَضَعُ يَدَهُ عَلَى مَتْنِ ثَوْرٍ، فَلَهُ بِكُلِّ مَا غَطَّتْ بِهِ يَدُهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ سَنَةٌ.**

**ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: **ملک الموت (عزرائیل ع)** حضرت موسی ته ولېږل شو او چې کله ورغئ نو **حضرت موسی ع یوه کلکه (قوي) څپېړه عزرائیل ع ته ورکړه او د عزرائیل ع یوه سترګه یې هم ور خرابه کړه.** عزرائیل ع بېرته د الله ج دربار ته ولاړ او الله پاک ته یې وویل چې تا زه خپل داسې یوه بنده ته ور ولېږم چې هغه نه غواړي مړ شي. الله پاک د عزرائیل سترګه بېرته ورسمه کړه او ورته ویې فرمایل **«بېرته ولاړ شه او (حضرت موسی) ته ووایه چې لاس دې د یوه غوایه په شاه کېږده او هر څومره وېښتان دې چې د لاس لاندې راغلل نو په همغه اندازه کلونه ژوند به کوې.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۲۳ حدیث ۹۵
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۲ ټوک ۲۳ کتاب حدیث ۴۲۳
- دریم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۱۳۳۹

نن سهار له لمانځه وروسته مې له عرفان څخه د پلار پوښتنه یې وکړه ما وېل د پلار تبیت دې نن څنګه دی؟

**وېل صدیق صیب اوس ښه دی پرون یې لږ شراب لږ تر خپلې اندازې زیات کړي وو نو ځکه یې حالت هغسې شوی وو.**

# د تبلیغ درویشتمه ورځ

پرون د مازدیگر له لمانځه ځخه وروسته د جومات په انگړ کې د یوې **ونې** لاندې کښېناستم، لږ شیبه وروسته شیخ الحدیث هم زما خوا ته راغئ، ما ونې ته کتل ما وېل ځومره ښکلې ونه ده.

شیخ وېل صدیقه! که خدای کول له دې ځخه به یوه ښکلې ونه زموږ او تاسې په نصیب وې په **جنت** کې.

**ما وېل د جنت ونې به حتمن دېرې ښایسته هم وي.**

شیخ الحدیث وېل د جنت د ونو لویوالی دومره دی چې یوه سپرلۍ (په آس سپور) به یې په سل کاله کې له سیورې ځخه هم بهر ونه وتلی شي.



**ما وېل شیخ صیب چې دا به ځرنگه او چېرته کرل شوي وي؟**

**ما وېل زموږ د ځمکې محیط ۴۰۰۷۵ کیلومتره دی چې انسان پلی هم پرې ولاړ شي نو په ۱۱ کالو کې د ځمکې یوه دوره کولای شي او تاسې د دې عظیم الشان ونې د سیوري خبره کوئ هغه هم بیا سپرلی او سل کاله؟**

**ما وېل دا ونه خو لکه چې زموږ د ځمکې د کرې څو برابره ده که څنګه؟**

شیخ الحدیث وېل رسول اکرم ﷺ چې کومه خبره کړې نو حتمن به سمه وي او د الله پاک په کارونو کې ګوتې وهل او ډېرې پوښتنې کول ښه نه دي بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> **عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ « إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَشَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عَامٍ، لاَ يَقْطَعُهَا»**
>
> **ژباړه:** له **سهل بن سعد** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي «په جنت کې یوه ډېره لویه ونه ده چې تر سیوري لاندې به یې سورلی (سپرلی) **سل ۱۰۰ کاله** سفر هم وکړي نو له سیوري څخه یې وتلی نشي.»

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۸۱ حدیث ۱۴۱
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۸ ټوک ۷۶ کتاب ۵۵۹ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ٦٥٥٢

عرفان هم غلی زموږ خبرو ته غوږ نیولی وو او شیخ الحدیث ته یې وېل دا خو چې ته په سل کاله کې د ونې بېخ ته رسې او بیا لمر ته ترې راوځې نو ټول عمر خو مو په همدې کې تېرېږي بل په دومره غټو ونو څه کوو؟

**او بیا یې وېل که چېرې موږ تل د ونې له سیوري لاندې ناست وو او د لمر وړانګې را باندې ونه لګېږي نو دا خو مو له ویټامین ډي د کمښت سره مخ کوي.**

بس د دوی بحث روان وو زه ترې د ماښام اوداسه ته پاڅېدم.

ملګرو حدیث شریف درسره شریک کړئ او الله پاک دې ستاسې هم دغه د جنت ونې په نصیب کړي.

# د تبليغ څلورويشتمه ورځ

ماښام زه او شېخ الحديث د جومات په انګړ کې ناست وو او د تبليغ خاطرې مو يو بل ته بيانولې، **عرفان** ماته او شېخ الحديث ته يو ګيلاس شيدې راوړې نو شېخ الحديث وېل الله پاک دې په جنت کې هغه شيدې او هغه شراب زموږ په نصيب کړي کوم چې د **معراج په شپه** رسول اکرم ﷺ ته ورکړل شوي وو.

**ما وېل دا څه وايې شېخ صيب ايا زموږ پيغمبر ﷺ هم شراب څښلي؟**

وېل **هو**! خو هغه شراب او دا د **کوپارو د لاس جوړ شوي** شراب فرق لري. هغه شراب چې رسول اکرم ﷺ ته د معراج په شپه ورکړل شوي وو هغه نشه او مستي نه لرله.



ما وېل دا خبره دې چېرته لوستې؟

بیا یې له ابو هريرة رض څخه دغه مبارک روایت شوی حدیث شریف راته بیان کړ:

> **حَدَّثَنَا عَبْدَانُ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ قَالَ أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِهِ بِقَدَحِ لَبَنٍ وَقَدَحِ خَمْرٍ.**
>
> **ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ته د اُسری (معراج) په شپه یوه کاسه **شیدې** او یوه کاسه **شراب** ورکړل شول.

- لومړی ماخذ: صحيح البخاري کتاب ۷۴ حدیث ۲۹
- دویم ماخذ: انګلیسي صحيح البخاري ۷ ټوک ۶۹ حدیث ۵۰۸
- درېیم ماخذ: صحيح البخاري حدیث ۵۶۰۳

شیخ الحدیث وېل دلته بیا یوه ډله علما دا خبره کوي چې رسول اکرم ﷺ یوازې د شېدو کاسه واخیسه او شېدې یې وڅښلې خو د دوی دا دلیل کمزوری دی.

عرفان هم د شیخ الحدیث خبرو ته تعجب شو او ویل یې که دا شراب دومره بد شی دي **نو ولې په جنت کې خلکو ته ورکول کیږي؟**

**شیخ ورته ویل چې دا شراب او هغه شراب ځمکه او آسمان فرق سره لري، دا د کوپارو په لاس جوړ شوي او د جنت شراب پخپله الله پاک جوړ کړي او بل دا چې د جنت شراب ذهنونه نه مغشوشه کوي.**

د دوی تر منځ لا بحث روان وو خو ما نوره دلچسپي پکې ونه ښوده ما وېل هسې نه چې دا ډول خبرې مې عقیده نور هم پسې خرابه کړي او نور ترې را ولاړ شوم.

ملګرو تاسې له دغه مبارک حدیث شریف څخه خبر وئ؟

کنه نو هیله ده چې له ملګرو سره یې شریک کړئ تر څو دوی هم خبر شي او ایمانونه یې تازه شي.

# د تبلیغ پنځه ویشتمه ورځ

تېر مازدیگر د معمول خلاف ډېر خلک جومات ته راغلي وو او ډېر یې پکښې **بهرني سیلانیان** هم وو، کله چې بهرنیان لاړل نو د تبلیغ جماعت یوه بله ډله را ورسېده چې پنډوکي یې په شا کړي وو.

شېخ الحدیث وېل په دا دومره کسانو کې به ښايي ایله یو د **سړي زوی** دلته راغلی وي نور یې سم لکه د **اوښانو** په څېر دي.

**ما وېل داسې ولې وایې شېخ صیب او دا خو ته د دوی سپکاوی کوې چې رک روغ انسانان له اوښانو سره تشبه کوې.**

وېل نه دا سپکاوی نه دی بلکې د رسول الله خبره مې په یاد شوه.



**ما وېل ایا هغه انسانانو ته د اوښانو خطاب کړی وو؟**

ویل یې هو! او بیا یې دغه حدیث مبارک راته بیان کړ:

> **أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ ـ رضى الله عنهما ـ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ «إِنَّمَا النَّاسُ كَالإِبِلِ الْمِائَةُ لاَ تَكَادُ تَجِدُ فِيهَا رَاحِلَةً»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت عبدالله بن عمر** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: خلک د **اوښانو** په څېر دي، چې له سلو څخه یې یوازې یو د سفر کولو (یا زغلولو) وړتیا لري.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۸۱ حدیث ۸۷
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۸ ټوک ۷٦ کتاب حدیث ۵۰۵
- دریم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ٦۴۹۸

خدای شته عرفان ته د شیخ الحدیث دغه خبرې هېڅ خوند ور نه کړ خو چې کله شیخ الحدیث د عرفان تریو تندي ته پام شو نو ویل نه ته یو له همغه سلو اوښانو څخه یو یې چې د سفر کولو وړتیا لرې ځکه خو زموږ سره په تبلیغ راغلی یې.

د شیخ الحدیث دې خبرې بیا ماته خوند را نه کړ او چې کله یې زما تریو تندي ته وکتل نو شیخ الحدیث سمدستي ولاړ شو ویل صدیقه! زه به د ماښام لپاره اودس تازه کړم او سرې ولاړ په خپله مخه.

ملګرو هیله ده چې دغه مبارک احادیث د امت تر غوږو ور ورسوئ تر څو له ثوابونو څخه محرومه نشي.

# د تبلیغ شپږ ویشتمه ورځ

**محسن** د ماښام له لمانځه مخکې زموږ خوا ته راغئ چېرې چې زه او شېخ الحدیث ناست وو، نو شېخ الحدیث ته یې ووېل شېخ صیب زما خو دلته لس ورځې پوره شوې او زه سبا کور ته ځم.

شېخ ورته په غوسه شو وېل نادان انسانه له هر کار مخکې **ان شاء الله** وایه کنه د حضرت **سلیمان ع** کیسه به در وشي.



عرفان ور غبږ کړل وېل شېخ صیب **حضرت سلیمان ع خو په عربي نه پوهېدو او نه هم هغه عرب وو نو ان شاءالله یې له کومه زده کړې وی؟**

بل دا راته ووایه چې څه کیسه ورسره شوې؟

**شېخ ول چوپ شه نادان انسانه په دې بې ځایه خبر!**

وېل **ټول پیغمبران مسلمانان** او زموږ د پیغمبر امتیان وو **حتا تر آدم ع** پورې او دا ټوله نړۍ هم الله پاک د سردار کونین **حضرت محمد ص** په وجه پیدا کړې کنه اوس به موږ نه وو.

بیا یې زیاته کړه وېل **حضرت سلیمان** د یوه **ان شاءالله** په نه ویلو **سل یا نهه نوي مېرمنې حاملې نشوای کړې** او که یې ان شاءالله ویلي وی نو نن به د اسلام لښکر نور هم پیاوړی وی او بیا یې دغه مبارک حدیث راته بیان کړ:

> **أَبَا هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ «قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ ـ عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ ـ لأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ عَلَى مِائَةِ امْرَأَةٍ ـ أَوْ تِسْعٍ وَتِسْعِينَ ـ كُلُّهُنَّ يَأْتِي بِفَارِسٍ يُجَاهِدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَقَالَ لَهُ صَاحِبُهُ إِنْ شَاءَ اللَّهُ. فَلَمْ يَقُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ. فَلَمْ يَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلاَّ امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ، جَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ، وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، لَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ».**
>
> **ژباړه:** له **ابو هريرة رض** څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: يو وخت **حضرت سليمان** ع چې د **حضرت داود ع** زوی وو وويل چې زه به **نن شپه له سلو (یا هم ۹۹) مېرمنو سره کوروالی (جماع) کوم** او هره یوه به یې یو **اتل (جنګیالی)** وزېږوي تر څو د الله په لاره کې وجنګېږي لاکن **ان شاءالله** یې ونه ویل نو ځکه یې له ټولو څخه یوازې یوې ښځې حمل ونیولو او **نیمه سړی** یې وزېږولو. د هغه چا په واک کې چې د رسول الله ﷺ ژوند دی که چېرې ده ان شاءالله ویلي وی نو ټول به یې اتلان زېږولي وی او د الله په لاره کې به یې جهاد کولو.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ٥٦ حدیث ٣٥
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۴ ټوک ۵۲ کتاب حدیث ۷۴
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۲۸۱۹

**عرفان** ورته وېل چې حضرت سلیمان دا په دومره ښځو پسې رسیده ګي څنګه کوله او **په اسلام کې خو له څلورو ۴ څخه د زیاتو ښځو اجازه هم نشته؟**

وېل دا احکام یوازې پر موږ **ناچیزه بندګانو** د تطبیق وړ دي **نه پر پیغمبرانو** او هغوی چې څومره غوښتل نو له هغومره مېرمنو سره یې ودونه کولای شوی.

هیله ده چې ملګري په جریان کې درسره واچوئ تر څو د دوی ایمانونه هم تازه شي.

# د تبلیغ اوه ويشتمه ورځ

نن سهار چې کله موږ لمنځونه وکړل او او د امیر صیب د **ایمان** او **یقین** په تقریر مو ایمانونه تازه کړل نو له لمر خاته لږ شېبه مخکې **عرفان** ولاړ شو د نفل لمانځه ته.

شیخ الحدیث ور غږ کړل چې دا د کومې وخت لمونځ دی؟

**عرفان وې دوه رکعته نفل کوم.**

شیخ الحدیث وېل پام کوه چې په دې وخت کې لمونځ ونه کړې.

**عرفان وېل ولې؟**



شیخ الحدیث ورته ووېل د لمر خاته او لمر لوېدو پر وخت د لمانځه اراده مه کوئ ځکه په دا وخت کې لمر د **شیطان د ښکرو تر منځ را خېژي!**

ما او عرفان دواړه شېخ ته حیران حیران وکتل او بیا شېخ وېل دا خبره له ځانه نه درته کوم بلکې دا د رسول الله ﷺ قول دی چې **ابن عمر رض** روایت کړی او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> **عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «لاَ تَحَرَّوْا بِصَلاَتِكُمْ طُلُوعَ الشَّمْسِ وَلاَ غُرُوبَهَا فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بِقَرْنَىْ شَيْطَانٍ»**
>
> **ژباړه:** له **ابن عمر رض** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: د لمر خاته او لمر لوېدو پر مهال تاسې د لمانځه ادا کولو اراده مه کوئ ځکه چې د شیطان د دوه ښکرو تر منځ را خېژي.

- لومړی ماخذ: صحیح مسلم کتاب ٦ حدیث ٣٥٣
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح مسلم ۴ کتاب حدیث ١٨٠٧
- درېیم ماخذ: صحیح مسلم حدیث ٨٢٨
- څلورم ماخذ: سنن نسایي ٦ کتاب ٥٧٨ حدیث

ملګرو ګورئ چې پام مو وي او بې وخته لمنځونه ونه کړئ کنه پایله به یې ښه نه وي او نور ملګري هم درسره خبر کړئ.

# د تبلیغ اته ویشتمه ورځ

پرون د ماښام له لمانځه وروسته د **عرفان د پلار** پوښتنې ته بیا ورغلي وو، له عرفان مې پوښتنه وکړه ما وېل **حاجي عمران** (د عرفان پلار) خو به بیا کوم پیک **تریخ شربت** نه وي نوشیجان کړی چې حالت یې خراب شوی؟

**عرفان وېل نه صدیق صیب! نن حاجي صیب شراب نه دي څښلي او له غرمې همداسې خولې پرې را روانې دي.**

شېخ الحدیث وېل عرفانه ورشه لږ یخې اوبه دې پر پلار تشې کړه.

**ما وېل دا څه کوې شېخ صیب دا ژمی او سړې اوبه؟**

عرفان یو جگ یخې اوبه یې پلار ته ور وشیندلې او پلار یې په چیغو کړ.



ما ور منډه کړل او عرفان مې ونیو ما وېل دا څه کوې د خدای نېکبخته خو سړی یو **ټوکړ (ټوټه)** په یخو اوبو کې لنده کړي او بیا یې پر تندي ور کېږدي نه دا چې ټول جگ یې په ځان ورتش کړي.

عرفان وېل خو شېخ الحدیث راته ووېل چې اوبه پرې تشې کړه.

بیا شېخ الحدیث وېل خو رسول الله ﷺ فرمایلي چې تبه د **دوزخ** له تودوخې ده او په اوبو یې له منځه یوسئ او بیا یې دغه مبارک حدیث بیان کړ:

> **حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، أَخْبَرَنِي أَبِي، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «الْحُمَّى مِنْ فَيْحِ جَهَنَّمَ فَابْرُدُوهَا بِالْمَاءِ».**
>
> **ژباړه:** له **حضرت عایشې رض** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: **تبه** د **دوزخ** له تودوخې (حرارت) څخه ده نو تبه په اوبو سړه لړي (یا له منځه یوسئ) کړئ.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۷٦ حدیث ۴۰
- دویمـ ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۷ ټوک ۷۱ کتاب حدیث ٦۲۱
- دریېمـ ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۵۷۲۵

دا کیسه چې تېره شوه نو د عرفان مور **بي بي جاجي** چای راوړ او شېخ الحدیث په غلي اواز ووېل اي د رسول **الله لعنت** دې په دې ښځه شي چې داسې **جعلي وېښتان** یې پر سر لګولي.

**ما وېل ولې لعنت ورباندې وایې؟**

وېل په داسې ښځو رسول الله ﷺ مبارک همـ لعنتونه ویلي او بیا یې حدیث مبارک بیان کړ:

> **عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ـ رضى الله عنه ـ قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ لَعَنَ اللَّهُ الْوَاصِلَةَ وَالْمَوْصُولَةَ**
>
> **ژباړه:** له **حضرت عبدالله بن مسعود** رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ پر هغو ښځو لعنت ویلی کومـ چې نقلي وېښتان کاروي.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ٦۵ حدیث ۴۸۸۷
- دویمـ ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ٦ ټوک ٦۰ کتاب حدیث ۴۰۹

عرفان څو ورځې مخکې د خپلې مور د **سرطان د ناروغۍ** کیسه راته کړې وه چې له هغه سره یې د مور خوارکۍ وېښتان ټول تویې شوي وو او بیا یې نقلي وېښتان ایښي وو. که څېرې د شېخ الحدیث خبره مې عرفان ته کړې وی چې شېخ دې پر مور لعنتونه ویل نو قسمـ دی چې په ټېلو به یې شېخ الحدیث له کوره شړلی وی.

ملګرو د الله او د رسول په لاره کې له سختو جالبو واقعو سره مخ شومـ، هیله ده چې تاسې دا واقعات له خپلو ملګرو او په ګروپونو کې درسره شریک کړئ.

# د تبليغ نهه ويشتمه ورځ

ماسخوتن چې کله د خوب لپاره خپلو بسترو ته ولاړو نو شېخ الحديث وختي ويده شو، عرفان په خپل موبايل کې د **طوفانونو** ويډيو کتله او اواز يې لږ جگ وو نو په دې وخت کې شېخ الحديث د **طوفان** په اواز يو دم را جگ شو او بيا يې شاوخوا حيران حيران کتل.

**ما وېل څه کيسه ده شېخ صيب خيرت خو به وي چې داسې حيران شاوخوا گورې؟**

شېخ وېل ما فکر وکړ چې د خدای قهر را نازل شو.

**ما وېل داسې ولې وايې او بل دا چې موږ خو د خدای په خپل کور کې يو نو دلته به ولې خپل قهر را باندې نازلوي؟**




وېل **خدای پاک** چې کله په غوسه شي نو هغه بيا **کور** او **جومات** نه گوري بلکې هر څه له منځه وړي، بل دا چې له **تېز باد** څه وېره لرل د سنت طريقه ده او رسول الله ﷺ به هم چې کله تېز باد وليد نو پر مخ به يې انديښنه را ښکاره شوه او بيا يې دغه مبارک حديث بيان کړ:

**حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ، قَالَ أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، قَالَ أَخْبَرَنِي حُمَيْدٌ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسًا، يَقُولُ كَانَتِ الرِّيحُ الشَّدِيدَةُ إِذَا هَبَّتْ عُرِفَ ذَلِكَ فِي وَجْهِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم.**

**ژباړه:** چې کله به **تېز (طوفاني) باد** لګېدلو نو د رسول اکرمﷺ پر مبارکه څېره به د اندېښنې (تشویش) نښې را ښکاره شوې. (فکر به یې کولو چې دا باد ښایي د خدای قهر وي)

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۱۵ حدیث ۲۹
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۲ ټوک ۱۷ کتاب حدیث ۱۴۴
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۱۰۳۴

د دېوال خوا ته یو بل **شېخ** په ډېر ژور خوب ویده وو او له خپله ځانه خبر هم نه وو، د هغه بېچاره **په خوب کې باد مات شو** نو **عرفان** ورته وخندل.



شېخ ورته غوسه شو وېل د الله په لاره کې چې څوک راوتلي وو نو خلک یې په باد پورې خندا نه کوي او حتا په دې مورد یې حدیث شریف هم راته بیان کړ:

**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَمْعَةَ، قَالَ نَهَى النَّبِيُّ ﷺ أَنْ يَضْحَكَ الرَّجُلُ مِمَّا يَخْرُجُ مِنَ الأَنْفُسِ**

**ژباړه:** له **حضرت عبدالله بن زمعة** څخه روایت دی چې رسول اللهﷺ **په هغه شخص پورې خندا منع کړې چې باد (پسکی) یې ووځي.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۷۸ حدیث ۷۲
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۸ ټوک ۷۳ کتاب حدیث ۶۸
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۶۰۴۲

# د تبليغ دېرشمه ورځ


پرون شپه لږ سړه وه او د شېخ الحديث يخني وشوه او ماته وايي ته پوهېږې چې دا يخني د څه په وجه ده؟



ما وېل دا چې کله **ځمکه** د **لمر** پر محور را څرخي او د ځمکې د کورې په يوه برخه د لمر وړانگې کمې لگېږي نو هلته ورځې لنډې او هوا سړه وي.

د ځمکې په کومه برخه چې د لمر وړانگې ډېرې لگېږي نو په هغه برخو کې ورځې اوږدې او هوا گرمه وي، او بل د ځمکې په شمالي نيمه کوره چې کله ژمی وي نو په جنوبي نيمه کوره کې همزمانه د اوړي (دوبي) موسم وي.

د بېلګې په توګه کله چې په اروپايي هېوادونو کې ژمی وي نو په **استراليا**، **نيوزيلنډ**، **جنوبي افريقا** او جنوبي امريکايي هېوادونو کې همزمانه د دوبي موسم وي.




شېخ الحديث وېل ته هم د کوپارو په خبرو تېروتی يې.

**ما وېل ښه نو ته راته ووايه چې د هوا شديده يخني او ګرمي د څه په وجه ده؟**

شېخ الحديث وېل **دا يخني او ګرمي د دوزخ د تنفس اخيستو په وجه ده،** که چېرې **دوزخ** الله پاک ته ژړا او فريادونه نه وی کړي نو اوس به مو شديده يخني او ګرمي نه درلوده.

بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «اشْتَكَتِ النَّارُ إِلَى رَبِّهَا، فَقَالَتْ رَبِّ أَكَلَ بَعْضِي بَعْضًا، فَأَذِنَ لَهَا بِنَفَسَيْنِ نَفَسٍ فِي الشِّتَاءِ وَنَفَسٍ فِي الصَّيْفِ، فَأَشَدُّ مَا تَجِدُونَ فِي الْحَرِّ، وَأَشَدُّ مَا تَجِدُونَ مِنَ الزَّمْهَرِيرِ»**
>
> **ژباړه:** له **ابو هريرة رض** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: د **دوزخ اور** خپل رب ته شکایت وکړ وېل اې زما ربه! زما مختلفې برخې یو بل سره خوري نو بیا الله پاک دوزخ ته د دوه سا (نفس) اخیستو اجازه ورکړه یو په ژمي کې او بل په اوړي کې نو له همدې وجې په هواد کښې شدیده ګرمي (په اوړي کې) او سخته یخني (په ژمي کې) وینئ.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۵۹ حدیث ۷۰
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۴ ټوک ۵۴ کتاب حدیث ۴۸۲
- دریېم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۳۲٦۰

عرفان وېل **سبحان الله** دا کوپارو لکه چې د **مېتیورولوجي (هواپوهنې)** علم له همدې حدیث شریف څخه اخیستی.

بیا یې وېل شېخ صیب په یوه خبره مې سر خلاص نشو هغه دا چې **دا دوزخ ډېره اوږده سا نه اخلي چې هره سا یې تقریباً ٦ میاشتې وخت نیسي؟**

**بل په هغو هېوادونو کې چې هوا هېڅکله نه شدیده سړېږي او نه هم ګرمیږي نو هلته دوزخ څنګه چل کوي؟**

د دوی بحث لا روان وو خو زه ترې نور ویده شوم ځکه چې بیا د سهار لمانځه ته بیا نه شوی را پاڅېدی.

ملګرو هیله ده چې لیکنه درسره شریکه کړئ تر څو د سایبیریا د شدیدې یخنۍ او د **سعودي د شدیدې ګرمۍ** په لامل پوه شئ.

# د تبلیغ یو دېرشمه ورځ

سهار د اشراق له لمانځه څخه وروسته موږ چای ته کښېناستو نو چې کله مو چای وڅښو نو عرفان وېل شیخ صیب:

**که چېرې زه د خپل ګاوندي راجېش کومار خور وتښتوم نو دا به جواز ولري چې ځان ته یې مینځه کړم؟**

شیخ وېل نه تر هغه چې راجېش پر تاسې یرغل نه وي کړی نو ته یې خور نشې مینځه کولی.

**بیا یې وېل ښه که چېرې زه لس مینځې ولرم نو د هغه به څومره زکات کېږي؟**



شیخ وېل رسول الله فرمایلي چې د مسلمان پر **آس** او **مینځه** باندې زکات نه کېږي.

بیا یې دغه مبارک حدیث بیان کړ:

> **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «لَيْسَ عَلَى الْمُسْلِمِ فِي فَرَسِهِ وَغُلاَمِهِ صَدَقَةٌ»**
>
> **ژباړه:** له ابو هریرة رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: پر هغه **آس** او هغه **مینځه** چې د مسلمان ملکیت وي زکات نشته.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري کتاب ۲۴ حدیث ٦٦
- دویم ماخذ: انګلیسي صحیح البخاري ۲ ټوک ۲۴ کتاب حدیث ۵۴۲
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۱۴٦۳

محسن وېل شېخ صیب **دا د مینځې او آس تر منځ څه تړاو دی چې دواړه یې له یو بل سره تشبه کړي؟**

**ایا یوه انسان ته د آس چې یو حیوان دی نسبت ورکول سم کار دی؟**

شېخ وېل په دې کې به هم حتمن د الله او د هغه د رسول کوم حکمت وو.

بیا عرفان وېل شېخ صیب که چېرې زما له **لسو** مینځو څخه یوه بې لارې شي او له بل چا سره تار وغځوي نو بیا به څه ورسره کوم؟



شېخ وېل که چېرې یوه له مینځو څخه دې له **درې ځله** زیاته **زنا** وکړي نو بیا یې په بازار کې د **رسۍ (پړي)** په قیمت خرڅولای شې.

بیا یې دغه مبارک حدیث شریف بیان کړ:

> **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «إِذَا زَنَتْ أَمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيَجْلِدْهَا ثَلاَثًا بِكِتَابِ اللَّهِ فَإِنْ عَادَتْ فَلْيَبِعْهَا وَلَوْ بِحَبْلٍ مِنْ شَعَرٍ»**
>
> **ژباړه: له ابو هریرة رض** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: که چېرې ستاسې له مینځو څخه یوه د **زنا مرتکبه** شي نو د الله د کتاب مطابق **درې دورې (متروکې)** یې ووهئ او که چېرې بیا یې زنا وکړه نو خرڅه یې کړئ حتا که د رسۍ (وېښتانو څخه د جوړ شوي پړي) په بیه وي.

- لومړی ماخذ: جامع الترمذي کتاب ۱۷ حدیث ۲۳
- دویم ماخذ: انګلیسي جامع الترمذي ۳ ټوک ۱۵ کتاب حدیث ۱۴۴۰
- درېیم ماخذ: جامع الترمذي حدیث ۱۴۴۰

**عرفان وېل ښه یوه بله ....** ده چې دا خبره کوله شېخ وېل **بس کړه!**

**وېل دا څه پېریان درباندې راغلي چې درګرده همدا مینځې مینځې یادوې وېل ځه ورک شه هسې د خلکو زړونه په دې مسافرۍ کې ور خرابوې.**


**محسن** د دوی دې خبرو ته بیخي تعجب او حیران شو، ماته وایي **صدیقه!** دا څه ډول کیسه ده چې **یو خوا مینځه چې یو انسان ده له آس سره یې په یوه تله کې تللي او بیا یې بل ځای د مینځې د خرڅلاو حکم کړی؟**

ما وېل بس همدا به د نبي کریم ﷺ حکم وي نو زه به پکښې څه ووایم.

# د تبليغ دوه دېرشمه ورځ

**بېګا شپه عرفان وېل دا يهودان سخت د بلا زامن دي وېل نفوس يې د مسلمانانو سلمه برخه دی خو بيا هم د ټولو مسلمانانو زور پرې نه رسيږي.**

شېخ الحديث غابنونه چيچل وېل اخ چې دلته خو يو **يهودی** چا په لاس راکړی وی چې سم مې **سنګسار** کړی وی.



**ما وېل شېخ صيب اسرائيل خو له هندوستان څخه لږ تر لږه ۴۰۰۰ زره کيلومتره لرې پراته دي او تاته يې څه زيان در رسولی چې دومره زړه دې ورته ډک دی؟**

وېل صديقه! دغه **مشرکين**، **کفار** او **بې دينه** زموږ خوږ پيغمبر نه مني.

ما وېل نو دا خو نيږدې ۱۲۰۰ **ميليونه** ستا خپل هېوادوال **هندوان** هم حضرت محمد د پيغمبر په توګه نه مني نو هغوی ته ولې څه نه وايې؟

وېل دا خو مې د خپل وطن خلک دي او بل دا چې **پيغمبر هم له يهودانو څخه سخت نفرت درلود** او له يهودو څخه نفرت د **رسول اکرم سنت** پرځای کول دي.

بيا يې وېل د رسول الله له يهودو څخه دومره بد راتلل چې حتا دوی به يې کله کله په کاڼو هم ويشتل.

ما وېل دا څه وایې شېخ صیب مونږ خو چې اورېدلي نو پیغمبر د یوې یهودۍ ښځې چې ناروغه وه عیادت ته ورغلی وو او دا ته څه وایې؟

وېل زه له ځانه خبرې نه کوم او بیا یې دغه دوه مبارک احادیث شریف راته بیان کړل:

> **حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم رَجَمَ يَهُودِيًّا وَيَهُودِيَّةً.**
>
> **ژباړه:** له ابن عمر رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ **یو یهود او یوه یهودۍ په کاڼو وویشته**.

- لومړی ماخذ: جامع الترمذي كتاب ۱۷ حديث ۱۸
- دویم ماخذ: انګلیسي جامع الترمذي ۳ ټوک ۱۵ کتاب حدیث ۱۴۳۶
- درېیم ماخذ: جامع الترمذي حديث ۱۴۳۶

> **حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم رَجَمَ يَهُودِيَّيْنِ أَنَا فِيمَنْ رَجَمَهُمَا فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ وَإِنَّهُ يَسْتُرُهَا مِنَ الْحِجَارَةِ.**
>
> **ژباړه:** له ابن عمر رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ **دوه یهودان** په کاڼو ویشتل او زه هم یو له کاڼو ویشتونکو څخه وم. ما ولیدل چې (یهود سړي) کوښښ کولو چې (یهودۍ مېرمن) له کاڼو څخه ځان ته سپر وګرځوي.

- لومړی ماخذ: سنن ابن ماجه كتاب ۲۰ حديث ۲۶۵۳
- دویم ماخذ: انګلیسي سنن ابن ماجه ۳ ټوک ۲۰ کتاب حدیث ۲۵۵٦

په دې وخت کې یو کشمیری شېخ بحث ته را ګډ شو او هغه د رسول الله ﷺ او د **بني قریظه** داستان راته بیان کړ چې **د یهودو ۸۰۰ نفره یې په یوه ورځ حلال کړل، ښځې یې منځې، هلکان یې غلامان او مالونه یې تقسیم کړل او دا یهودان ټول عرب وو** او د رسول ﷺ خپل هیوادوال او د مدینې اوسیدونکې وو.

ما وېل شېخ صیب د دې یهودو د وژلو وژنو کوم ماخذ یا سند درسره شته او که له ځانه دا خبرې کوې؟

وېل زه بې سنده خبرې نه کوم او بیا یې وېل ما دغه کیسه د **(ابن کثیر سورة الأحزاب د ۲٦ ایت تفسیر)** کې لوستې، بل دا واقعه په **(سیرت د سرور کاینات ژوند - تالیف مولانا عنایت الله علمي)** کې هم راغلې.

بیا یې د قران عظیم الشان دغه مبارک ایت راته تلاوت او تفسیر کړ:

۞ وَأَنزَلَ الَّذِينَ ظَاهَرُوهُم مِّنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِن صَيَاصِيهِمْ وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ فَرِيقًا تَقْتُلُونَ وَتَأْسِرُونَ فَرِيقًا ﴿٢٦﴾ وَأَوْرَثَكُمْ أَرْضَهُمْ وَدِيَارَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ وَأَرْضًا لَّمْ تَطَئُوهَا ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرًا ﴿٢٧﴾ سورة الأحزاب ایت ٢٦ – ٢٧

**ژباړه:** او هغه (الله) هغه کسان چې د دوی مرسته یې کړې وه، چې له اهل کتابو څنې وو، له خپلو قلاګانو نه راکوز کړل. او د دوی په زړونو کې یې وېره وغورځوله، (نو) یوه ډله تاسو وژله او بله ډله تاسو بندي کوله. او هغه، تاسو وارثان کړئ د هغوی د ځمکو او د هغوی د کورونو او د هغوی د مالونو او د هغې ځمکې چې تاسو هغه نه وه پایمال کړې، او الله په هر شي باندې له ازله ښه قادر دی.



بیا یې وېل رسول اکرمﷺ ته به د مکې قریشو وېل چې **موږ خو ستا خپل قوم او هیوادوال یو** نو ته باید له موږ سره له نرمښت کار واخلې، خو نبي کریمﷺ له خپل فکر پرته د هیڅ شي پروا ونه کړه.

وېل رسول اکرم ﷺ په خپله په لسگونو غزاو کې برخه اخستې او دا غزاوې یې نژدې ټولې له **خپل قوم** سره وې، یوازې د بدر په غزا کې **۷۰ نفره** قریش مړه شوه، چې دا ټول د رسول الله ﷺ نژدې تربورونه وه، او آن ځینو مسلمانانو په یاده غزا کې په خپل لاس دخپلې کورنۍ خلگ ووژل.

دغه شېخ وېل چې خپلولي د حق معیار نه دی، چې خپل دې د حق داعیې په مخ کې سپر شو نو بیا یې وژل مجبوري شي.

زه خو د دې خبرو په اورېدو بیخي حیران شوم او نور خپلې بسترې ته ترې ولاړم او تر سهاره د شېخ د حدیثونو او د کشمیري د ایت د تفسیر په وجه خوب رانغئ، **لانت په شیطان چې د انسانانو په زړونو کې نفرت او شک ور اچوي.**

# د تبلیغ دري دېرشمه ورځ

پرون شپه عرفان، زه او شېخ سره ناست وو او تر ناوخته مو بحث مو پر دې کولو چې **د نړۍ تر ټولو سوچه مسلمانان به د کوم هېواد وي؟**

شېخ الحدیث وېل زه فکر کوم چې په اسلام کې به تر **طالبانو ورونو** نور هېڅ ملت هم دومره سوچه مسلمانان نه وي ځکه هلته په افغانستان کې دوی اصلي **اسلامي** او **شریعي حدود** کټ مټ لکه د **صحابه کرامو** په څېر تطبیقول مثلاً لکه **سنګسارول**، د **لاسونو او پښو پرې کول**، له **کوپارو څخه سرونه قلم کول** او ډېر نور مثالونه یې بیان کړل.

**وېل د رسول اکرم ﷺ لپاره به بل هېڅ قوم هم دومره قرباني نه وي ورکړي لکه ستاسې پټانانو او حتا د سعودي خلکو هم نه ده ورکړې.**

ما وېل شېخ صیب هغه کوم احادیث شریف چې تاسې هغه بله شپه د رسول اکرم ﷺ په اړه راته بیان کړي وو نو ما سهار په فېسبوک خپاره کړل او زموږ ځینو ملګرو وېل چې هغه یې د **زنا** د سزا په وجه یهودان په کاڼو ویشتلي وو.



**عرفان غبرګ کړ وېل شېخ صیب دا د زنا د سنګسار په اړه خو ما په قران عظیم الشان کې هېڅ کوم حکم پیدا نه کړ او ولې په قران کریم کې د سنګسار په مورد ذکر نه دی شوی؟**

شېخ وېل په دې اړه **ایات شریف** وو خو متاسفانه **ام المومنین حضرت عایشې رض** یې د ساتنې په اړه لږ بې غوري وکړه او له هغه څخه **بزې** وخوړل.

**ما وېل دا څه وایې شېخ صیب بزه څنګه د خدای ج ایاتونه خوري؟ خدای پاک خو ویلي چې زه به د دې کتاب حفاظت تر قیامته پخپله کوم؟**



وېل ام المومنین د رسول اکرم ﷺ په مرګ مصروفه وو او هغه ایات چې **د سنګسار په اړه وو هغه پر پاڼو لیکل شوي وو او بزه په هغه ورځ وړې وه او چا واښه نه وو ورته اچولي نو ملعونه راغله او د سنګسار ټول ایاتونه یې وخوړل** او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

**حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ لَقَدْ نَزَلَتْ آيَةُ الرَّجْمِ وَرَضَاعَةُ الْكَبِيرِ عَشْرًا وَلَقَدْ كَانَ فِي صَحِيفَةٍ تَحْتَ سَرِيرِي فَلَمَّا مَاتَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم وَتَشَاغَلْنَا بِمَوْتِهِ دَخَلَ دَاجِنٌ فَأَكَلَهَا.**

**ژباړه:** له **حضرت عایشې رض** څخه روایت چې وایي د **سنګسار** او **غټ عمره** ماشومانو ته د شیدو ورکولو په اړه ایاتونه زما سره وو او **بالښت** لاندې مې ایښي وو، کله چې رسول اکرم ﷺ وفات شو نو موږ د هغه په مرګ مصروفه شوو او **بزه راغله او هغه ایاتونه یې وخوړل**.

- لومړی ماخذ: سنن ابن ماجه کتاب ۹ حدیث ۲۰۲۰
- دویم ماخذ: سنن ابن ماجه انګلیسي ۳ ټوک ۹ کتاب او ۱۹۴۴ حدیث

ما او عرفان شېخ الحدیث ته تر څو شېبو همداسې حیران حیران کتل او نیمه شپه شوه راباندې نو په دې وخت کې شېخ الحدیث پاڅېد او وېل یې زه به د تهجد لمونځ وکړم او زه لا همغسې حیران پاتې وم.

# د تبلیغ ځلور دېرشمه ورځ

پرون له **عرفان** څخه د ماښام جمه قضا شوې وه او وروسته بیا یوازې د جومات په انګړ کې په لمانځه ودرېد، کله چې عرفان په لمانځه وو نو د بهرنیانو یو څو سیلانیان هم جومات ته راغلي وو او په دې وخت کې یوه **خارجی** د عرفان د لمانځه له مخې تېره شوه.

**شېخ الحدیث وېل ولاړ د عرفان لمونځ باطل او لغوه شو.**

**ما وېل ولې شېخ صیب څه تندر را نازل شو او دا وحی چا دربانديږ را نازله کړه چې د هغه خوارکي لمونځ دې ور باطل علان کړ، ټوکه مې ورسره وکړه ما وېل ته خو سمه زموږ د انتخاباتو کمیسیون یې چې د خلکو روغې رایې ور باطلوې.**

وېل صدیقه! کله چې **سپی، خر** او **ښځه** د چا د لمانځه له مخې تېر شي نو لمونځ یې باطلېږي او باید له سره یې وکړي.



**ما وېل دا څه وایې شېخ صیب بیخي زیاتی نه کوې چې یوه ښځه چې ستا خپله خور، مور، لور او مېرمن کیږي هغه له خرو او سپیو سره برابروې؟**

وېل نه! ځکه چې دا زما خبره نه بلکې د رسول الله حدیث دی او زه له ځانه خبرې نه کوم او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> **عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهُ ذُكِرَ عِنْدَهَا مَا يَقْطَعُ الصَّلاَةَ فَقَالُوا يَقْطَعُهَا الْكَلْبُ وَالْحِمَارُ وَالْمَرْأَةُ. قَالَتْ قَدْ جَعَلْتُمُونَا كِلاَبًا، لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ ـ عَلَيْهِ السَّلاَمُ ـ يُصَلِّي، وَإِنِّي لَبَيْنَهُ وَبَيْنَ الْقِبْلَةِ، وَأَنَا مُضْطَجِعَةٌ عَلَى السَّرِيرِ.**
>
> **ژباړه:** له **ام المومنین حضرت عایشي رض** څخه روایت دی چې فرمایي کوم شیان چې لمونځ باطلوي (لغوه کوي) زما پر وړاندې ذکر شول او ویل یې (د چا چې **سپی**، **خر** او **ښځه** د لمانځه تر مخ تېر شي نو لمونځ یې باطله کیږي). **حضرت عایشه (سول الله ﷺ ته) وویل چې تاسې موږه سپي کړو (مانا له سپیو سره برابر کړو)؟** ما لیدلي چې کله به رسول الله ﷺ لمونځ کولو نو زه به په خپل کټ کې د رسول الله ﷺ او قبلې تر منځ پرته وم.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۵۱۱
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۸ کتاب ۱۵۸ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۱ ټوک ۹ کتاب ۴۹۰ حدیث

عرفان چې له لمانځه خلاص شو نو ما ورته د شېخ الحدیث کیسه وکړه او عرفان راته وویل یره صدیق صیب که د دې حدیث شریف لحاظ نه وی نو شیطان راته وايي چې دا د کرکټ ړنده د شېخ الحدیث پر سر ماته کړم.

ما وېل **لاحول ولا قوة** توبه وکاږه دا ډول وسوسې د **شیطان** دي ورشه بېرته دې لمونځ له سره وکړه چې ایمان دې تازه شي.

# د تبلیغ پنځه دېرشمه

پرون د مازدیگر شاوخوا وه چې زه او شېخ الحدیث د باندې ووتلو، په لاره کې یو د گاډي **آس** په مخه راغئ، د شېخ الحدیث د دې آس رنگ او اندام سخت خوښ شو ځکه داسې ښکارېدو چې څېښتن یې ښه ساتلی وو.

ماته وایي صدیقه! کاشې داسې یو آس مې درلودی.

**ما وېل شېخ صیب نو دا آس ته خو په جومات کې هم اجازه نشته او نه دې کور د دې جوگه دی چې آسونه دې پکښې وساتلی شي.**

بل دا چې د **آس** ساتنه او پاکول ستر کار دی ځکه دوی **ډېر واښه خوري** او **ډېرې متیازې او خوشایه کوي** او د هغه پاکول اسانه کار نه دی.



شېخ وېل د **متیازو** او **خوشایو** په کیسه کې یې نه وم او چې څومره یې ډېر **خوراک**، **متیازې** او **خوشایه** کولای نو هغومره به زما پکښې گټه وه.

**ما وېل شېخ صیب شکر هندو هم نه یې لکه د دوی چې د خپلې غوا متیازې څښبي او ته د خپل آس متیازې د برکت لپاره وڅښبې.**

**دویم دا چې دلته یخنې هم دومره زیاته شته نه چې خوشایه یې لکه زموږ د وطنونو په څېر څپیکې ترې جوړې کړې او بیا یې وچې کړې او په ژمي کې یې وسوځوې نو څه پرې کوې؟**

وېل نه صدیقه! دا مې د الله په لاره کې د ثواب لپاره ساتلو.

**ما وېل د آس په ساتلو کې د څه شي ثوابونه دي؟**

بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> **حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حَفْصٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا طَلْحَةُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ سَمِعْتُ سَعِيدًا الْمَقْبُرِيَّ، يُحَدِّثُ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ يَقُولُ قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم «مَنِ احْتَبَسَ فَرَسًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ إِيمَانًا بِاللَّهِ وَتَصْدِيقًا بِوَعْدِهِ، فَإِنَّ شِبَعَهُ وَرِيَّهُ وَرَوْثَهُ وَبَوْلَهُ فِي مِيزَانِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت ابو هریرة** څخه روایت دی چې له رسول الله ﷺ فرمایلي: که چېرې څوک د الله د رضا لپاره یو **آس** وساتي او په الله او د هغه پر وعده ایمان ولري نو الله پاک به د قیامت پر ورځ هغه ته د آس چې څومره **وابښه** خوړلي، **بولي (متیازو)** او **خوشایه** کړي د همغه په اندازه اجرونه ورکړي.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۲۸۵۳
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۵۶ کتاب ۶۹ حدیث
- دریم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۴ ټوک ۵۲ کتاب ۱۰۵ حدیث

له ځانه سره مې وېل ما وېل دا زموږ ځینې **کوچیان** چې ډېر آسونه ساتي نو ښه په ثوابونه به ماړه وي.

ملګرو هیله ده چې د ثواب لپاره تاسې هم دا مبارک حدیث شریف درسره شریک کړئ.

## د تبلیغ شپږ دېرشمه ورځ

نن د سهار له لمانځه څخه وروسته چې کله د ایمان او یقین په تقریر زموږ ټولو ایمانونو په جوش راغلل نو وروسته د سهار چای ته کښېناستو، نن هغه تازه مسلمان شوی هندي **راجا** له کوره حلوا راوړې وه.

راجا ټولو ته حلوا واچوله خو ما د پرهېز په وجه ونه خوړله نو ما خپله برخه عرفان ته ورکړه.

محسن په دې کار عرفان ته بد بد کتل شروع کړل.

شېخ هم د محسن څېرې او تریو تندي ته متوجې شو او ماته وایي خیر دی صدیقه! د **خوراک** او **غنیمت** په تقیسم کې دا کیسې راځي او حتا **صحابه کرامو** به هم له یو بل سره د غنیمت پر مال له یو بل سره ضد کولو.

ما وېل دا څه وایې شېخ صیب؟



بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> **حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ سُوَيْدِ بْنِ مَنْجُوفٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ ـ رضى الله عنه ـ قَالَ بَعَثَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم عَلِيًّا إِلَى خَالِدٍ لِيَقْبِضَ الْخُمُسَ وَكُنْتُ أُبْغِضُ عَلِيًّا، وَقَدِ اغْتَسَلَ، فَقُلْتُ لِخَالِدٍ أَلاَ تَرَى إِلَى هَذَا فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم ذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ «يَا بُرَيْدَةُ أَتُبْغِضُ عَلِيًّا» فَقُلْتُ نَعَمْ. قَالَ «لاَ تُبْغِضْهُ فَإِنَّ لَهُ فِي الْخُمُسِ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ»**
>
> **ژباړه: حضرت عبدالله بن بریدة** فرمایي: رسول الله ﷺ حضرت علي خالد ته ور ولېږلو تر څو د **غنیمت** شویو مالونو **خُمس (پنځمه برخه)** ترلاسه کړي. **حضرت علي رض (له مینځې سره چې د خُمس له اموالو څخه شمېرل کېده کوروالی (قرابت) کړی وو) غسل وکړ.** زه د حضرت علي رض له دغه کار څخه ناراحته شوم او خالد ته مې وویل: ته دغه نه وینې چې څه کار یې کړی؟! کله چې د نبي کریم ﷺ حضور ته راغلو نو دا کیسه (واقعه) مو ورته بیا وویله. رسول اکرم ﷺ وفرمایل: **اې بریدة!** ایا له حضرت علي رض څخه په زړه کې کرکه لرې؟ ما ویل هو. بیا رسول اکرم ﷺ وفرمایل چې **له هغه سره کینه مه کوه ځکه د هغه د خُمس برخه (حصه) له دغه څخه هم زیاته ده.**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۴۳۵۰
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۶۴ کتاب ۳۷۷ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۵ ټوک ۵۹ کتاب ٦۳۷ حدیث

**راجا چې کله حدیث واورېد نو یو دم ولاړ شو ویل سر له ننه دې دا دین تاسې ته مبارک وي زه ترې تېر یم.**

## شېخ وېل هلئ سړی مرتد شو او را ټینګ یې کړئ.

په دې وخت کې ما شېخ الحدیث را کلک ونیولو او ما ویل شېخ صیب نه دا د **صحابه کرامو** دور دی او نه هم زموږ د وطن په څېر هېواد دی چې د خلکو ژوند واخلې او د **کافر** او **مرتد** په نوم یې ووژنې.

ما ویل دلته حکومت او **عدالت** شته او د **هندوستان د قانون** مطابق دې شخص کوم جرم نه دی کړی بلکې دا یې خپل شخصي کار دی چې دین ساتي او کنه مطلب خپله فردي ازادي لري.

**بیا مې شېخ ته وېل دا ټوله ستا خپله ګناه ده چې د نویو مسلمان شوو کسانو پر وړاندې دا ډول احادیث مور ته بیانوې، ما وېل مور خو ورسره بلد یو خو دا خلک دا ډول خبرې نشي زغملی.**

راجا له موقع څخه په استفاده په منډه له جومات څخه وتښتېد او هغه د حلوا کاسه هم ترې پاتې شوه، خدای خبر چې د خوارکي به اوس څه حال وي.

# د تبلیغ اوه دېرشمه ورځ

پرون غرمه زه او شیخ الحدیث همداسې د باندې ووتلو ځکه په جومات کې دواړه لږ قید شوي وو نو په لاره کې یو **خر** په مخه راغئ چې **هنګېدا**.

شیخ الحدیث ماته وایي ژر شه صدیقه **اعوذ باالله ووایه**

**ما وېل ولې څه ټکه را لوېدلې او څه مې کړي چې اعوذباالله راباندې وایې؟**

ویل یې تا د خره هنګېدا وانه ورېده؟

**ما وېل وا مې ورېده نو په دې کې د تعجب او حیرانتیا څه خبره ده؟**

شیخ وېل خر ځکه و هنګېد ځکه چې شیطان یې ولید.

**ما شاوخوا وکتل او ما وېل دلته خو ماته پرته ستا بل څوک په نظر نه راځي؟**



وېل نه دا لعین شیطان موږ او تاسې ته ځان نه رابنکاره کوي او شرمیږي، یوازې **پیغمبرانو** او ځینې **حیواناتو** ته به یې ځان ور بنکاره کولو.

یو سات وروسته چې کله بېرته د جومات په طرف راتلو نو د یوه کور مخې ته یو ډېر ښکلی **چرگ** وو او **اذانونه** یې کول، شېخ وېل یا الله شکر او ته پر موږ خپل فضل او کرم وکړې.

**ما وېل شېخ صیب ستا تبیت نن سم دی؟ بیخي نابلد کارونه کوې نن.**

وېل ولې تا د چرگبانگي اذان وانه ورېد؟

**ما وېل وا مې ورېد خو دا خو نه تر اوسه د لمانځه وخت دی چې اذان کوي او نه هم دا کوم ملا دی، او بل چرگان خو هر وخت اذانونه کوي نو په دې کې د حیرانتیا څه خبره ده؟**

وېل صدیقه ته نه پوهېږې، دې چرگ ملایکه ولیده.

**ما بیا شاوخوا وکتل او د کوره یو تک تور هندی را ووت ما وېل دا درته ملایکه ښکاري؟**

وېل نه ملایکې یوازې **حیواناتو** ته ځان ور ښکاره کوي پرته له **پیغمبرانو** نور انسانان یې نشي لیدی او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> **حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ « إِذَا سَمِعْتُمْ صِيَاحَ الدِّيَكَةِ فَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ، فَإِنَّهَا رَأَتْ مَلَكًا، وَإِذَا سَمِعْتُمْ نَهِيقَ الْحِمَارِ فَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ، فَإِنَّهُ رَأَى شَيْطَانًا »**
>
> **ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة** څخه روایت دی چې له رسول الله ﷺ فرمایلي: چې کله تاسې د **چرگبانگي اذان** واورېد نو د الله پاک د فضل او کرم وغواړئ ځکه چې (د دوی اذان څرگندوي چې) **ملایکه** یې لیدلې. او چې کله تاسې د **خرو هنگېدا** واورېده نو د **شیطان** څخه له خدایه پناه وغواړئ (د دوی هنگېدا څرگندوي چې) هغوی شیطان لیدلی.

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۳۳۰۳
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۵۹ کتاب ۱۱۱ حدیث
- دریم ماخذ: صحیح البخاري انگلیسي ۴ ټوک ۵۴ کتاب ۵۲۲ حدیث

ملگرو هیله ده چې لیکنه درسره شریکه کړئ او که کولای شئ نو په خپل چاپېریال کې دغه مبارک حدیث شریف پر خپلو ځانونو تطبیق کړئ.

# د تبلیغ اته دېرشمه

نن سهار له لمانځه وروسته مې شېخ الحدیث خبر کړ ما وېل زه هر ورځ ستاسې مبارک احادیث له خپلو هېوادوالو سره د فېسبوک له لارې شریکوم، ما وېل خو ډېرې ملګرې بیا ستا د همدې احادیثو په وجه پر ما د **کوپر** او **الحاد** ټاپې لګوي نو له دوی سره څه وکړم؟




شېخ الحدیث وېل که چېرې یو شخص په **سلو کې ۹۹ فیصده** متیقین وي چې فلانکی **کافر** دی او **۱ فیصد** هم مطمئن نه وي نو بیا هم په چا د کوپر ټاپه څوک نه شي لګولی او څوک چې پر تاسې د کوپر ټاپې لګوي نو هغوی پخپله ټول **کافران** دي او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> **عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ـ رضى الله عنه ـ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ « إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لأَخِيهِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهِ أَحَدُهُمَا »**
>
> **ژباړه:** له **حضرت ابو هريرة** رض څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: که چېرې څوک **خپل ورور ته کافر (اې کافره) ووایي** نو په تحقیق سره چې **دی پخپله یو له هغو څخه دی (کافر).**

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث ۶۱۰۳
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۷۸ کتاب ۱۳۰ حدیث
- درېیم ماخذ: صحیح البخاري انګلیسي ۸ ټوک ۷۳ کتاب ۱۲۵ حدیث
- همدا خبره په صحیح مسلم حدیث ۶۰ (۱ کتاب حدیث ۱۲۲ او انګلیسي ۱ کتاب حدیث ۱۱۷) کې هم راغلې.

ما وېل د کوپر ټاپې یې هم بلا ورپسې خو زموږ شهید پرور ملت په وطن کې حتا خلک د **کوپر په نامه وژني**.

شیخ وېل څوک چې بل مسلمان ووژني نو هغه هم **کافر** دی او بیا یې دغه مبارک حدیث شریف راته بیان کړ:

> **وَعَنْ اِبْنِ مَسْعُودٍ - رضى الله عنه - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ – صلى الله عليه وسلم « سِبَابُ اَلْمُسْلِمِ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ » مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.**
>
> **ژباړه:** له **ابن مسعود رض** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: د یوه مسلمان سپکاوی د الله ج بې اطاعتي (فساد یاد فسق) ده، او **وژل یې کفر دی**. متفق علیه

- لومړی ماخذ: صحیح البخاري حدیث ٦٠٤۴
- دویم ماخذ: صحیح البخاري ۷۸ کتاب ۷۴ حدیث
- درېیم ماخذ: سنن نسایي حدیث ۴۱۱۲
- څلورم ماخذ: سنن ابن ماجه حدیث ۳۹۴۰

له ځانه سره مې وېل چې د دې حدیث پر بنیاد خو دا **طالبان**، **داعشیان**، **مجایدین** او هغه ټولې ډلې چې د اسلام په نامه وژل کوي ټول **کافران** او له اسلامه خارج دي خو له خپله ځانه خبر نه دي.


یا الله ته مو ایمان ته خیر پېښ کړې، ملګرو دغه مبارک احادیث له ټولو **افراطیانو**، **طالبانو**، **داعشیانو**، **مجاهدینو** او **سخت دریځو** وطنوالو سره شریک کړئ چې له خپلو ځانونو څخه خبر شي.

## د تبلیغ نهه دېرشمه ورځ

سهار مې شېخ ته ویل ما وېل باوجود د دې چې زه ستاسې **مستند احادیث** له خپل ملت سره شریکوم خو دوی بیا هم **ښکنځل** کوي نو زه د دوی سره څه وکړم؟

**شېخ الحدیث وېل صدیقه که چېرې تاسې پټانان انسانان وی نو خپل ملک به مو نه ړنګولو او ستاسې ټولو ماغزو زنګ وهلی ځکه چې تحقیق نه کوئ او له عقل کار نه اخلئ او هر څه د دین په نامه په پټو سترګو منئ، وېل نه په خپله په څه پوهېږئ او نه د بل خبرې ته غوږ ږدئ.**

خدای شته دا خبرې یې **ستخې بدې** را باندې ولګېدې، که څه هم خبرې یې خورا زیاتې ترخې وې مګر **حقیقت** یې بیانولو نو ما هم دا د **زهرو غوړپ تېر کړ** او حقیقت ته کې ځان تسلیم کړ.



بیل یې وېل صدیقه هر څوک چې ښکنځل کوي نو هغوی ډېر ذلیله، پست او کم ظرفه انسانان دي او ښکنځا د یوه مسلمان خصلت نه دی.

بیا یې دغه مبارک حدیث راته بیان کړ:

> **عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم « لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلاَ اللَّعَّانِ وَلاَ الْفَاحِشِ وَلاَ الْبَذِيءِ »**
>
> **ژباړه:** له **حضرت عبدالله** څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: مومن نه سپکاوی کونکی دی، نه لعنت کونکی، نه فاحش (ښکنځلمار) دی او نه هم بې شرمه (ناشولته).

- لومړی ماخذ: جامع الترمذي ١٦ کتاب ١٥٠٣ حدیث (انګلیسي ١٥٤٦ حدیث)
- دویم ماخذ: صحیح الالباني ١٥ کتاب ٢٤ حدیث (انګلیسي حدیث ٣٣٢)

شېخ وېل یو انسان ته ښکنځل څه چې حتا یو چرګبانګي ته هم ښکنځل کول ناروا دي او بیا یې دغه حدیث شریف راته بیان کړ:

> **عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم «لاَ تَسُبُّوا الدِّيكَ فَإِنَّهُ يُوقِظُ لِلصَّلاَةِ»**
>
> **ژباړه:** له زین بن خالد څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: تاسې چرګبانګي ته ښکنځا منه کوئ که چېرې د لمانځه لپاره یې را ویښن کړئ.

- لومړی ماخذ: سنن ابي داود کتاب ١٨ حدیث ٢٢٠
- دویم ماخذ: سنن ابي داود حدیث ٥١٠١
- درېیم ماخذ: سنن ابي داود انګلیسي کتاب ٤٢ حدیث ٥٠٨٢

بیا یې وېل که د یوه مسلمان د ښکنځا په وجه حتا یو بې دینه هم ښکنځا وکړي نو د هغه ګناه به هم د مسلمان په غاړه وي او بیا یې د قران دغه مبارک ایت راته تلاوت کړ:

> **۞ وَلَا تَسُبُّوا الَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ فَيَسُبُّوا اللَّهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ سورة الأنعام ١٠٨**
>
> **ژباړه:** او تاسې هغو ته ښکنځلې مه کوئ چې دوی یې له الله پرته عبادت کوي، ځکه دوی ښایي د ناپوهۍ له وجې په ناحقه الله ته ښکنځل وکړي.

وېل که بیا هم ځینې بې شرمه انسانان وو چې باوجود د دې یې هم ښکنځلې کولې نو په ځواب کې یوازې دومره ورته ولیکه چې **(۞ وَإِذَا خَاطَبَهُمُ الْجَاهِلُونَ قَالُوا سَلَامًا)** او بس نور ځواب مه ورکوئ.

# د تبلیغ څلوېښتمه ورځ (الوداع)

نن د سهار په جمه **شېخ الحدیث** په نظر را نغئ نو له **عرفان** څخه مې پوښتنه وکړه ما وېل شېخ څه شوی او جمې ته ولې نه وو راغلی؟

عرفان وېل شېخ الحدیث ته چا ویلي وو چې که چېرې یو شخص له خپلې ښځې څخه تر **شپږو میاشتو** ډېر مسافر شي نو ښځه یې حق لري چې له خاوند څخه **طلاق** واخلي، وېل شېخ بېګاه چې ته ویده وې هغه تبلیغ پرېښود وېل هسې نه چې ښځه مې له لاسه ووځي.

**ما عرفان ته وېل شېخ خو پخپله عالم دی نو دې خبرې ته یې مخکې پام نه وو؟**

وېل ضرور نه ده چې عالم دې په هرڅه پوه شي او وخت یې نه لرلو چې کتابونه په دې مسئله وګوري نو ځکه له جومات څخه یې پښې سپکې کړې.

عرفان وېل شېخ سخته ناځواني وکړه چې پرته له **خدای پامانۍ** ولاړ او اوس یې دا **کدو سری** راته امیر کړ او اوس به د دې خبرو ته غوږ ږدو.



**محسن** هم سم شیطان دی سمدستي امیر ته وایي **عرفان** تاته د **کدو سري** خطاب وکړ.
امیر صیب وېل خیر ځوان دی او بیا یې وېل د مشر خبرو ته باید غوږ ونیول شي او اطاعت یې وشي او حتا په دې مورد یې د شېخ الحدیث په څېر حدیث هم راته بیان کړ:

> **عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ «اسْمَعُوا وَأَطِيعُوا، وَإِنِ اسْتُعْمِلَ حَبَشِيٌّ كَأَنَّ رَأْسَهُ زَبِيبَةٌ»**
>
> **ژباړه:** له **حضرت انس** څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: غوږ ونيسئ او اطاعت وکړئ (د خپل رئيس يا مشر) حتا که حبشی (اتوپيايی) وي او سر يې د **کشمش (مميز)** په څېر هم وي.

- لومړی ماخذ: صحيح البخاري حديث ٦٩٣
- دويم ماخذ: صحيح البخاري ١٠ کتاب ٨٨ حديث
- درېيم ماخذ: صحيح البخاري انگليسي ١ ټوک ١١ کتاب ٦٦٢ حديث

خوشبختانه شيخ الحديث د خپل **واټسپ** شمېره عرفان ته ورکړې وه او هغه بيا ماته راکړه، زنګونه مې ورته ډېر ووهل خو ځواب يې را نکړ، ما وېل خير بيا به له وطن څخه ورسره اړيکه نيسمـ.

خدای شته غرمه چې له جوماته راوتمـ نو **ټولو راپسې ژړل** او وېل داسې نامي تبليغ موږ په ټول ژوند نه وو کړی، **زموږ د ګروپ تقريباً ټولو وېل چې ته ځې نو موږ هم نور په تبليغ کې نه پاتې کېږو**.

ما وېل اوس مې **ويزه ختمه شوې** بيا به بل کال که ژوند وو **يوه چېله** درسره ولګومـ، له دې سره زموږ **د ګروپ ١٨ کسان نن رخصت شول او فکر نه کومـ چې بيا دې تبليغ ته راشي**.

تبليغ ته له راتګ څخه تر دا دمه مې د الله او د هغه د رسول په لاره کې **١ جوړه بوټان، ٢ جوړې څپلی، ٢ د موبايل چارجرونه، يوه د ځان مينځلو شامپو** او **٣ زره هندی کلدارې** قرباني ورکړه.

د دې ټولو يادولو څخه مې هدف دا وو چې په تبليغ کې لوړې ژورې راځې خو بيا هم د دې ټولو تاوانونو په بدل کې مې سخت په زړه پورې حديثونه زده کړل چې ايمان مې سمـ ورسره په جوش راغئ او داسې جړقېږي له ډېره جوشه.

هيله ده چې د چېلې په دوران کې ستاسې ايمانونه هم تازه شوي وي او يو څو مبارک احاديث شريف مو زده کړي وي او مننه چې تر دا دمه مو زما ملتيا وکړه.

راتلونکی کال که د خدای رضا وه نو دويمې چېلې ته به هرو مرو ځمـ، زړه مې دی چې په مياشت کې لا اقل يوې سې روزې ته هم پکې لاړ شمـ.